شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک نشراتی ارگان

لومړی کال	دو دیرشمه گڼه	دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د اسد د میاشتی (۲۹)	د ۱۹۹٦ میلادی کال د اگست (۱۹)	د ۱٤۱۷ ق کال ربیع الثانی (٥)

دښمنی څنګه په دوستیی بدلیږی؟
لویی خدای (جل جلاله) فرمایی: « نیکی اوبدی سره برابربدای نشی، دبدی ځواب په داسی طریقه سره ورکړه چی ډیره ښه وی.
نوناببره به هغه ځوك چی ستا اودهغه ترمینځ دښمنی وی دیوه مهربان دوست په شانی وگرزی.
ژباړه (حم السجده: ۳٤)

هوښیار څوك اوبې همته څوك ؟
حضرت سداد بن اوس رضي الله عنه وایي: د الله رسول ﷺ فرمایلي دي: « هوښیار هغه څوك دی چي له ځان سره بي محاسبه وکړه او له مرگ نه وروسته ژوند دپاره بي کار وکړ. او عاجز (بې همته) هغه څوك دي چي خپل نفس یي دخواهشاتو تابع کړ ، اوبیا د الله (جل جلاله) ابوري بي دا فضل اوکرم امید بي وته وترل.
(مشکوة – باب الضیافة)

امیر المؤمنین: غونډی گډون کونکوته په خپله عالمانه وینا کی وویل:

هرانسان چی له ژبنی ، نژادی او قومی تعصب نه پرته دخپل ملت خدمت ته ملا وتړی په ټولو چارو کی کامیاب دی

چاته چی خدای قدرت ورکوی هغه په یوه امتحان کی اچوی (ملا محمد حسن اخند)

تقوی داسلامی نظام پایه ده نو مونږ باید تر هر څه دمخه تقوی ولرو (مولوی نورمحمد ثاقب)

طالبانو چی کوم بریالیتوبونه ترلاسه کړی دی دا دلوی خدای (جل جلاله) فضل اومهربانی ده (مولوی عبدالباری احد)

دظلم اواستبداد مقابله هغه وخت کیدلای شی چی دخدای (جل جلاله) له قانون سره سم عمل وشی (مولوی احسان الله احسان)

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دتنظیمه رئیس محترم ملامحمد حسن اخند په مشری دپنځو ولایتونو دوالیانو ، ولسوالانو فرقو قوماندانانو په گډون یوه ستره غونډه جوړه شوه. غونډه دعظیم الشان قرآن دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه ، وروسته تنظیمه رئیس محترم ملامحمد حسن اخند والیانو ، ولسوالانو او قوماندانانو ته هرکلی ووایه او والیانو دهر ولایت ولسوالان او قوماندانان حاضرینو ته وروپیژندل. دپیژند گلوی له مراسمو وروسته تنظیمه
پاتی په (۳) مخ

دبهرنیو چارو دډفتر رئیس محترم ملامحمد غوث اخند امیرالمؤمنین ته دخپل سفر گذارشات عرض کړل

دتیری پنجشنبی په ورځ دلسد په ۲۵ نیټه امیرالمؤمنین محترم ملا محمد عمر مجاهد دطالبانو دبهرنیو چارو ددفتر رئیس محترم ملا محمد غوث اخند خپل گذارشونه وباله.
زموږ خبریال له کندهار څخه خبر راکوی چی په دی کتنه کی محترم ملا محمد غوث اخند امریکا ، اروپا اوسعودی عربستان ته دطالبانو دبهرنی سفر په اړه معلومات عرض کړل اوپه دغو هیوادونو کی ...

[illegible]

اوس په ارگون کی دفساد هیڅ نښی نښانی نه لیدل کیږی

په ارگون کی دحزب دقرارگاو په ختمولو سره دارگون خلك زیات خوشال دی

(ملابخت محمد رعد)

په واته کی دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك نماینده محترم ملابخت محمد رعد دپکتیکا دحالاتو په اړه دشریعت له اونیزی سره په خپلو خبروکی وویل: اوس د خدای (جل جلاله) په فضل په پکتیکا
پاتی په (٤) مخ

له پکتیکا څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی په هغه ولایت کی دحکمتیار په مشری دحزب اسلامی دمرکزونو له تصفیی نه وروسته داسلامی حزب مشر محترم مولوی محمد یونس خالص دپکتیکا مشهور قوماندان محترم ... ته هدایت ورکړ چی له طالبانو سره دپخوانی وعدی له مخی چی شپاړس میاشتی وروسته له دلویی پکتیا
پاتی په (٤) مخ

دطالبانو اسلامی تحریك په افغانستان کی دبحران دپای ته رسولو لپاره راپورته شوی دی

دمشکلاتو په سرکی دربانی وجود او دکابل اوسنی دولت دی (مولوی محمد غوث)

امریکا یی سناتور هینگ براون چی په افغانستان کی دسولی دپروسی په اړه افغانستان ته راغلی اوپه دی لړ کی کندهار ته هم تللی دی او دطالبانو داسلامی تحریك له مسئولینو سره بی کتلی اوپه دی لړ مسئلو ورسره غړیدلی دی په دی اړه دبهرنیو چارو دډفتر رئیس محترم مولوی محمد غوث له بی بی سی سره په یوه مرکه کی داسی وویل: سناتور هینگ براون کندهار ته
پاتی په (٤) مخ

جنرال بابه جان در این اواخر از هند دیداری داشت

درین سفر از افراد رژیم سابقه کمونیستی دعوت به عمل آمد که به کابل بیایند

بابه جان با محمود بریالی وتعدادی از افراد بلند پایه رژیم سابقه در هند گفتگو های داشته است

منابع موثق وباخبر اطلاع میدهند که جنرال بابه جان که یکی از جنرالهای مهم وکدری نیروهای نظامی ائتلافی بوده وبه حیث قوماندان فرقه صفر- ۱۵۵ اداره ائتلافی ایفا، وظیفه مینماید ودر جنگهای چهار سال اخیر اداره ائتلافی با مخالفین خصوصاً مقابل حزب اسلامی سهم قابل ملاحظه ای داشت موصوف در این اواخر از
بقیه ص (٤)

داسلامی تحریك مسئولینو دپاکستان دخپلواکی د ٤۹ کلیزی له امله دهغه هیواد مشرانو ته مبارکی وویله

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دپاکستان دخپلواکی دورځی دلمانځلو له امله په هغه ولایت کی دپاکستان جنرال قونسل یوه غونډه رابللی وه چی په هغی کی
پاتی په (٤) مخ

دمبارکی مراتب

دشریعت داوونیزی مسئول مدیر اونور کارکوونکی دهیواد دخپلواکی داووه اویایمی کلیزی له امله مسلمان اومجاهد ملت ، امیرالمؤمنین ، دعالی شوری غړیو اوعامو افغانانو ته دخپلی مبارکی مراتب وړاندی کوی ، هیله لرو چی دلوی خدای «ج» دخاصی مهربانی له مخی زموږ حوریدلی ملت له وریښمو مشکلاتو څخه نجات ترلاسه کړی .

مونږ کوښښ کوو چی دهیواد په بیلو بیلو سیمو کی میخانیکی ښوونځی پرانیزو

(عبدالله نعمانی)

دیوی پرتمینی غونډی په ترځ کی دهلمند دگرشك دمیخانیکی ښوونځی فارغانو ته بری لیکونه ورکړل شول.
له هلمند څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی داسد په ۲۵ نیټه دهلمند دمیخانیکی ښوونځی په انگړ کی دښوونځی دمسئولینو ، دسیمی دعلماو، مشرانو او دښوونځی د زده کوونکو په گډون یوه ستره غونډه جوړه
پاتی په (٤)

کارهای عمرانی ، تربیتی وفرهنگی ولسوالی چرخ به صورت احسن جریان دارد

خبر نگار ماار ولسوالی چرخ خبر میدهد که بخش تعلیم وتربیه این ولسوالی زیر نظر تحریك اسلامی طالبان فعال وجهت ادای مسئولیت دینی وایمانی خویش بذل مساعی
باقي ص(۳)

دطلوع افغان ورځپانی دوه اتیایمه گلیزه دنوی عصری کمپیوتری سیستم په واسطه له چاپ نه راووتله

زموږ خبریال له کندهار څخه خبر راکوی چی دکندهار په ارغوني ښارگی دنویو عصری ماشین الاتو ترفعالیدو وروسته دطلوع افغان تاریخی ورځپانی ۸۲ گنه په نوی عصری
پاتي په (٤) مخ

په کندهار کی د C.S.A دموسسی دفتر پرانستل شو

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی داسد په ۲۵ نیټه په هغه ولایت کی د C.S.A دموسسی دفتر پرانستل شو. ددفتر دپرانستلو مراسم دعظیم الشان قرآن دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شول ورپسی ددی موسسی آمر ډاکتر امان الله دموسی
پاتی په (٤)

په کندهار کی یوه اندازه وسله ونیول شوه

دکابل دائتلافی اداری څو تنه جاسوسان ونیول شول

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دهغه ولایت دارغنداب په ولسوالی کی دهغی ...

دخوست دکوچیانو او خوستوالو مشرانو په یوه میاشت اوربند او بیا دائمی جرگی ته په واك ورکولو موافقه وکړه

داسد په ۱۷ نیټه دپنجشنبی په ورځ دخوست دعلماو په پیشنهاد او دهغه ولایت دوالی په غوښتنه له پښتور څخه دعلماو یو دوولس کسیز هیئت چی محترم الحاج مولوی محمد صادق، محترم مولوی محمد میر ، محترم مولوی میر حبیب، محترم مولوی شهاب الدین دلاور، محترم مولوی محمد اکرم ، محترم مولوی حمیدخان ، محترم مولوی احمدالله ، محترم مولوی موسی جان ، محترم
پاتي په (٤)



سرمقاله

روسی پیلوټان څنگه وتښتیدل؟

څکه وتښتیدل چی:

دطالبانو اسلامی تحریك له دوی سره داسلامی اصولو اوانسانی کرامت په بنسټ چلند کاوه ، که له دوی سره بی هغسی غیر انسانی سلوك کړای وای لکه چی د روس پلار (شوروی اتحاد) له زرگونو بندی افغانانو سره په افغانستان او شوروی اتحاد کښی وکړ نو بیا خو به ددغی پیښی هیڅ احتمال نه ؤ ، که دوی بی هغسی دتورو تمبو شاته غورزولی وای لکه نور ظالم ځواکونه چی له سیاسی بندیانو سره چلند کوی نو بیا به هم دغه پیښه نه وه شوی ، که دطالبانو اسلامی تحریك د پردو له ملی شتمنی (پرغمل الوتکی) سره دامانت ساتلو اوپالندری په فکر کی نه وای نوبیا به دغه پیښه کله شوی وه، داهر څه چی وشول له دی نه وو چی دطالبانو اسلامی
پاتی په (۲) مخ

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور
ص۲

دملکرو ملتونو مؤسسه ته یوه تنقیدی کتنه
ص۲

پیلوټهای روسی باطیاره حامل شان
ص۲

دادب ملغلری
۳مخ

عبادات در اسلام چه مفهومی را افاده
۳مخ

دکشمیر مسئله دملگرو ملتونو دامنیت شورا له اجندا څخه وویستل شوه

دملگرو ملتونو په امنیت شوری کی هغه مسایل له اجندا څخه ایستل کیږی چی په پرله پسی توگه پنځه کاله وړاندی بحث ونه شی چی دکشمیر اوفلسطین مسئلی هم په دغه جمله کی راځی. پاکستانی هیئت هغه وخت له دی
پاتي په (٤)

مونږ له هر مفسد اوهرډول اخلاقی اواجتماعی فساد سره تضاد لرو

دجهاد مصلح اوخیر غوښتونکی قوماندانان زموږ تن او وجود دی

مونږ به هیڅکله دخپل دیندار او مجاهد اولس قاتلان ونه بخښو

محترم مولوی عبدالباقی حقانی

دپکتیکا والی محترم مولوی عبدالباقی حقانی دهغه ولایت په امنیت اواستقرار کی دسیمی دقوماندانانو ، علماو او قامی مشرانو دفعالی برخی اخیستو په اړه په یوه اخباری بیان کی وویل: له روسانو اوداخلی کمونیستانو سره دافغانانانو جهاد په هیواد کی داسلامی نظام دنفاذ او اسلامی عدالت دتأمین لپاره و.
پاتي په (٤)مخ

استقلال وحریت واقعی در بندگی وعبادت خدا (جل جلاله) ومتابعت رسولش ﷺ نهفته است

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامی تحریك

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: دلیکوال هیئت تر کتنی لاندی

مسئول مدیر : مولوی احمد جان

تیلیفون : ۸٤۰۳۷۸

آدرس : په پیښورکی دطالبانو داسلای تحریك

دبوی ګڼی بیه نمائندګی

: په هیواد کی (۵۰۰) افغانۍ.

سرمقاله ...

تحریك له دغو سیاسی بندیانو سره دانسانیت او بشری کرامت سلوك کاوه، دوی ته داستوګنی په ځای کی دژوند ټولی اسانتیاوی برابریدی ، روغتیایی چاری یی ترپالنی لاندی وی، ددوی دوطن واکترانو او نورو استازو په اسانتیا سره لیدنه ورسره کولای شوای ، دالوتکی فنی پالنه یی ددوی په لاس کوله او...؛

هو دومره اعتراف کیدای شی چی په دغه پیښه کی به دځینو فنی احتیاطی تدبیرونو نیمګړتیاوی اغیزه لری مګر دا داسی عوامل دی چی دداسی پیښو په وخت کی ډیر پرمخ تللی هیوادونه چی په پوره ساتنی اونظامی الاتو او وسائلو سمبال وی هم خوندی نه دی ورڅخه پاتی شوی، که د الوتکو تښتولو ، چاودولو او اوسپنیزو بندی خانوماتولو اونورو داسی نوروالو بی شمیره غمجنو پیښو ته پام وکړو چی په زرګونو انسانان اوشتمنی له منځه پکښی تللی دی له هغو واړو فنی سمبالښتونو سره سره ډیری فنی اواحتیاطی نیمګړتیاوی اغیزه پکښی لری.

اوس که روس ددغی پیښی له کبله باتی ولی او ځان باتوربولی دابی ځایه ده ځکه چی داپیښه د روس له باتوری څخه نده بلکی دطالبانو داسلامی تحریك له انسانی سلوك اوله هغه نه دبندیانو دبدی استفادی له مخی څخه وشوه له همدی کبله په الوتکه کی وړل شوو محافظینو دهغی احتیاطی روحیی له مخی نه چی په دوی باندی حاکمه وه هیڅ اقدام بی مناسب نه دی بللی ، ځکه دهغوی په پوځی اقدام سره الوتکه ، بندیان اوپخپله دوی هرڅه له منځه تلل اولانجه به په لاینحل پړاو کی ننوتلی وای.

او که چیری دربانی اداره دغه پیښه دطالبانو په اسلامی تحریك پوری دخندلو بهانه جوړوی نوهغه ځه دی وریه یاد کړی چی دجهادپه موده کی ددوی دحربی پوهنتون ترڅنګ (اخور دری ته نیږدی په مثتیوکی) روسی جنګی بندیانو ددیو څومره محافظین ووژل؟ او څومره سلاح اوحربی مهمات په اور لمبه کړل؟ اوکه د ربانی اومسعود په لمن پوری ورګنډل شوی ځینی جهتونه ددغی الوتکی تښتیدل د پردیو قوتونو کار اوبا په تحریك کی دننه دسازش زیږنده بولی نو دوی د نوروپه ائینه کی خپل مخ وینی ځکه دوی تل دپردو په لاس کی لوبول شوی ، په سازشونو او معاملو کی روزل شوی دی له همدی امله د وروستنی معاملی اوسازش قربانیان شول.

روسی جنګی بندیانو ددوی څومره محافظین ووژل ؟ او څومره سلاح اوحربی مهمات یی په اور لمبه کړل؟ په هر حال داداسی ځانګړی پیښه نه ده چی یوازی د طالبانو داسلامی تحریك ته ورپیښه ده بلکی دربانی او دده داندیوالانو په ډلو برسیره دنړۍ په سترو پوځی اوساتنی ځواکونو کی ډیری دی ورته پیښی شوی دی اوکیږی اوبیا یی پلټنی روانی دی، دغه پیښه چی لاتر اوسه پوری یومخ له سیاسی چاپیریال څخه نه ده وتلی خپل پړ اوونه به په طبیعی بون سره وهی.

دطالبانو اسلامی تحریك ددی لانجی په حل کی چی څومره ځنډ کاوه هغه دیوه جهادی اوملی مقصد لپاره و چی د زرګونو تری تم شوو افغانانو مرګ اوژوند معلوم کړی اودهمداسی اسلامی اوملی غښو مقصدونو لپاره به ددوی دریځ تل ترتله داسی ټینګ اوغیر متزلزل وی ان شاء الله تعالی.

پیلوتهای روسی باطیاره حاملشان فرار کردند

خبیب

پیلوتهای روسی که طیاره حاملشان که از مهمات ووسایل نظامی مملو بود و به اداره کابل انتقال می‌یافت یك سال قبل توسط نیروی هوائی تحریك اسلامی مجبور به نشستن در میدان هوائی قندهار گردید ، وبه حیث یك شاهد وگواهی معتبر وزنده بی ثابت گردانید که روسها از افغانستان دست نگرفته اند وهویت اداره کابل که حقیقت وواقعیت اش برای اهل نظر وناظرین اوضاع معلوم بود، برای همه ملت افغانستان وجهانیان هم واضح وثابت گردید که یك اداره ئی اجنبی وبه کمك اجنبیها وخارجیها وجودش طرح وعملي گردیده و بقا ودوام اش هم مربوط به ان دست زدن ها وکمکهاي خارجیها ممکن وعملی میباشد .

که فرود اوردن این طیاره درآن شرایط صعب وناگوار پیکار ومقابله یك پیروزی اهم وتاریخی برای ملت ماوتحریك اسلامی طالبان پنداشته میشد وبه اصطلاح (چانس طلایی) بود که به تحریك ارزانی شد ودر همان دم رسالت تاریخی خود را ادا وانجام داد .

اما اینك تحریك اسلامی طالبان که یك جهش وتبروی ملی میباشد خواست که از دنباله این واقعه وحادثه به نفع بزرگترین ارمان ملت مسلمان ومجاهد افغان استفاده نماید(رهایی طیاره وپیلوتهای آنرا) وابسته ومشروط به رهائی عزیز ترین وشریف ترین افراد ملت مسلمان افغان ! زندانیان افغان که

به اتحاد شوروی انتقال یافته بودند) وفرامرش همه دعوا گران جهاد وسردمداران انقلابی ! نظام اسلامی! گردانیده شده بودند، نمودند که یقیناً بزرگترین ابتکار تاریخی بود که تحریك از خود نشان داد وواضح گردید که تحریك از هر زمینه وپیش آمد مساعد بنفع ملت وارمانهای برحق اوشان استفاده می برد. گرچه تحریك میتوانست که درهمان اول وهله روی معامله ئی پرسود مالی وسیاسی باروسها، طیاره وعملهٔ آنرا رها نماید وبه دامنه حادثه خاتمه بخشند که چنین نکردند و جزاء هم الله خیرا فی الدارین.

البته ملتفت خواهیم بود که دست زدن به چنین اقدامی برای تحریك اسلامی طالبان در شرایط ناگوار وصعب نظامی وسیاسی آن وقت که تحریك جدیداً به صحنه امده بود وضرورت مبرمی به تحکیم پایه های ملی وبین المللی خود داشت وایجاب مینمود که از باز کردن جبهات مزید مخالف داخلی وخارجی به رخ خود جداً جلوگیری نماید آنهم به اصطلاح در مقابل یك قدرت مهم سیاسی ونظامی همسایه (روسیه) که بزرگترین واساسی ترین حامی ونګهبان اداره ائتلافی درعالم اسباب پنداشته میشد ومیشود خالی از مشکلات نبود ویك اقدام ساده وبسیطی پنداشته نمیشد که در پی آمد خود خطرات گوناگون ناگوار شدیدی سیاسی ونظامی نداشته باشد.

روسها در طول این یك سال از فشار ها ونیرنگهای مختلف وگوناگونی سیاسی وروانی وتهدید مستقیم نظامی وغیر مستقیم نظامی از طریق اکمال کردن وسیع وهمه جانبه نظامی ومالی (اداره ائتلافی) ودر کنار آن وارد کردن فشار های گوناگونی منطقوی وبین المللی علیه تحریك کار گرفتند وبه هر نوع معامله مالی ، سیاسی وحتی نظامی در مقابل رهائی اسیران با تحریك اسلامی آماده گی جدی نشان دادند که ظاهراً پرمنفعت ترین معامله ئی پنداشته میشد اما تحریك این همه را در مقابل خواست ، ارمان واراده ئی ملی خود وملت مسلمان افغان (رهائی بدون قید وشرط اسرای افغانی) که تحریك رهائی اوشانرا حلال مشکلات ومعضله پیچیده وبغرنج فعلی کشور میدانست ، نادیده گرفت وبه این خواست خود تاآخر مستقیم وپابرجا ماند.

تااینکه دست تقدیر در میان شد وخلاف تدبیر عمل نمود وبه فرار پیلوتهای روسی انجامید.

په معاصرو پیړیو کی بین المللی اړیکی :

دملګرو ملتونو مؤسسی ته یو تنقیدی کتنه

مولوی عبدالحکیم "مجاهد"

اوومه برخه

۲- دعراق له خوا دکویت نیول:

داګست په دوهمه ، ۱۹۹۰ م کال کی دعراق بعثی رژیم قوځونو دیوه مسلمان هیواد کویت بین الملل پولی ماتی کړی اویه شپه شپه کی یی ټول کویت اشغال کړ اویه دی توګه یی ټول بین المللی قوانین ، اداب اواخلاق تر پښو لاندی کړل.عراق لکه څنګه چی یی په ۱۹۸۰ م کال کی په بو بل اسلامی هیواد ایران باندی یرغل کړی و او دهغه هیواد دوه ښاروته خورم ښار، ایدان اوسط العرب یی له نیولو نه وروسته دعراق برخه اعلان کړه چی ټولی بین المللی ټولنی یی سپل کاوه، بونیم میلیون مسلمانان دجګړی قربانی شول او دمسلمانانو زیاته پانګه اواقتصادی وسایل له مینځه ولاړل ، همدا رازیی دکویت له نیولو نه وروسته داګست په اتمه کویت هم دعراق نو لسم ولایت اعلان کړ چی داخلی دبین المللی ټولنی دسختی غصی اوعکس العمل سبب وګرزیده.

ملګری ملتونه په کویت باندی دعراق دیرغل په مقابل کی پتهه خوله پاسیل کیونکی پاتی نه شول بلکی دلته یی په ایران باندی دیرغل برعکس سخت دریز خپل کړ اونږدی دیوی میاشتی په اوږدو کی یی دوولس مصوبی تصویب کړی چی وروستنۍ یی ۶۷۸ ګڼه مصوبه وه . دکومی له مخی چی «دائتلافی ځواکونو» ته واك ورکړی شوی وو چی له کویت څخه دعراقی قوځونو دایستلو دپاره دی له هرممکن ځواك څخه کار واخیستل شی.

دملګرو ملتونو دغه اقدامات په لاندی ډول وو:

۱- ۶۶۰ ګڼه مصوبه : په دغه مصوبه کی یی په کویت باندی دعراق یرغل محکوم کړ ، او دعراقی قوځونو دسمدلاسه ، بی قید اوشرط اوشیړوتلو غوښتنه یی وکړه.

۲- ۶۶۱ ګڼه مصوبه : داګست دمیاشتی په شپږمه نیټه دعراق په خلاف اقتصادی ، مالی اوتجارتی بندیزونه ولګول شول. له یو لړ شرایطو سره یی دوا اوودری مستثنی کړه او دبندیز دڅارنی دپاره یوه کمیټه جوړه شوه.

۳- ۶۶۲ ګڼه مصوبه: دا داګست په نهمه تصویب شوه چی دعراق له خوا دکویت دیو ځای کولو اعلام یی وغندلو.

٤- ۶۶٤ ګڼه مصوبه : داګست په ۱۸ نیټه له عراق څخه غوښتنه وشوه چی ټول هغه خارجیان چی دیرغلو میلنتو په نوم یی ساتلی دی خوشی کړی .

۵- ۶۶۵ ګڼه مصوبه: د اګست په ۲۵ دامنیت شوری په کویت کی دعراقی قوځونو دیرغل په نتیجه کی مېرنه او ژوبله وغندله اویه سیمه کی یی له هغو هیوادونو څخه چی جنګی بیړۍلری وغوښتل چی داقتصادی بندیزونو په عملی کولو لاس پوری کړی.

۶- ۶۶۶ ګڼه مصوبه : دسپتمبر دمیاشتی په ۱۳ دامنیت شوری له ځانګړی کمیټی نه وغوښتل چی په عراق کی دخوراکی اړتیا اندازه کړی ، څو سورصلیب دهغو دپوره کولو دپاره اقدامات وکړی.

۷-۶۶۷ ګڼه مصوبه: دسپتامبر په ۱۶ یی له عراق څخه وغوښتل چی په کویت کی دخارجی نمایندګیو دکار کونکو او ددوی دمسکو نه ځایونو ساتنه دی وکړی او هغه اعمال یی وغندل چی دبهرنیو اتباعو تښتول او ددوی په استوګنځایونو تیری کول وو.

۸- ۶۶۹ ګڼه مصوبه : دسپتامبر دمیاشتی په ۲٤ خصوصی کمیټی ته وظیفه ورکړه شوه چی دهغو هیوادونو د مرستی دپاره دغوښتنو څیړ نه وکړی چی په کویت باندی یی دعراق دتیری له کبله اقتصاد ته تاوان پیښ شوی وو، (چی بیا اتلس هیوادونو داقتصادی تاوان لیستونه وراندی کړل.)

۹- ۶۷۰ ګڼه مصوبه : دسپتامبر دمیاشتی په ۲۵ یی په عراق باندی تجارتی بندیزونه نور هم سخت کړل له غړو هیوادونو څخه وغوښتل شول چی عراقی بیړیولښوی او الوتکو ته یی دالوتنی اجازه ورنکړی (ددوا او په خاصو حالاتو کی دخوراکی موادو انتقال مستثنی شوی وو)

۱۰- ۶۷٤ ګڼه مصوبه : داکتوبر په ۲۹ عراق دنړیوال قانون په ماتولو محکوم شو او ورڅخه غوښتنه وشوه چی بهرنی اتباع ونه یرغمل کړی او له غړو هیوادونو څخه وغوښتل شو چی ددوی په اتباعو باندی دعراق له خوا دبد سلوکۍشواهد شوری ته وراندی کړی.

۱۱- ۶۷۷ ګڼه مصوبه: دنومبر دمیاشتی په ۲۸ دعراق هغه عمل تقبیح شو چی دکویت د مدنی احصائیو فهرستونه یی له مینځه وړی اودهغه هیواد دیموګرافی جوړښت یی بدل کړی دی .

۱۲- ۶۷۸ ګڼه مصوبه : دغه مصوبه دنوامبر په ۲۹ تصویب شوه ، چی له غړو هیوادونو څخه وغوښتل شو، که دجنوری تر ۱۵ ۱۹۹۱ کال پوری عراق له کویت څخه ونوځی ، نو دهغه د ایستلو دپاره دی ، له ټولو لازمو وسایلو څخه کار واخلی . دغی مصوبی په عراق باندی ده اتحادی قوځونو ، جګړی اویرغل ته قانونی حیثیت ورکړ اوله اتحادی هیوادونو څخه وغوښتل شول چی ته پیښو څخه وشوری خبره ساتی.

دجنوری په ۱۶ ۱۹۹۱ م کال دشپی په دوه بجی دبغداد په ښارباندی چی نژدی څلورمیلیونه خلك په کی اوسیدل داتحادی ځواکنو هوایی برید پیل شو په سلګونو جنګی الوتکو په ښارباندی عملیات پیل کړل. چی دوه نیم زره الوتنی یی ترسره کړی اویه زرګونو خروارهٔ بمونه یی په ښارووروول. امریکایی پوځی مقاماتو اعتراف وکړ چی په بغداد باندی دلومړی‌رشپی د بمونو تخریبی او وژونکی قوت یی له هغه اتمی بم څخه زیات وو چی څلوېښت کاله مخکی یی په هیروشیما باندی غورځولی وو، په عراق باندی دبمبارۍ دلومړیو ۱۹ ورځو احصائیی ښوډلی ده چی تخریبی قدرت یی دبمونو له هغی اندازی سره برابر وو چی دنړیوالی دویمی جګړی په اوږدو کی غورځول شوی وو.

اتحادی قوځونو دامریکا او انګلستان په مشری،غوښتل دعراق اقتصادی اوتخنیکی بنسټ له مینځه یوسی. ځکه اتحادی قوځونو په نظامی مرکزونو برسیره روغتونونه ، دماشومانو لپاره دشیدو جوړولو فابریکی ، د بریښنا کارخانی، داوبوسولو اوکنالیزیسونونو دستګاوی، بټېچلی علمی اوتخنیکی مرکزونه بمباری کړل. او دا کار دملګرو ملتونو دامنیت د شوری د ۶۷۸ ګڼې مصوبې له مخې دو ورکړی شوی ماموریت له حدودو څخه بېکاره تیری وو. په هغه کی دصدام حسین دنظامی تیری په مقابل کی له کویت څخه عراقی فوځ ایستل وو، نه داچی دعراق عام خلك ووژنی ، اقتصادي اوتخنیکی تأسیسات یی تباه کړی.

اتحادی ځواکونو دامریکا په لارښوونه نه یوازی داچی عراق یی د اسرائیلو په مقابل کی له هر ډول دغرو وهلو اومقاومت کولوڅخه محروم کړ بلکی دخلیج نورعربی هیوادونه یی هم په اقتصادی لحاظ سخت کمزوری کړل او په نظامی لحاظ یی امریکا ته محتاج کړل. په عراق باندی دجګړی ورځنی مصرف له دوولس نیم سوه میلیونه ډالره څخه زیات اټکل شوی وو . چی دا ټول دکویت ، اماراتو اوسعودی عربستان په غاړه وو ، چی امریکا او دهغی اروپایی متحدینو ته یی په لومړی ځل دپنځوس اوشپیته زره میلیونو ډالرو په شااوخواکی مصارف ورکړل. دڅه ناڅه نیم میلیون امریکایی او اروپایی قوځونو خوراك څښاك او دجنګی وسایلو د چلولو اوتأسیسولو لګښتونه هم دعربستان په غاړه اېښودل شوی وو . ... دتیلو جنګ ۷۹مخ.

عراق په اسرائیلو باندی دالحسین (Scud) توغندیو حمله وکړه ، په مقابل کی یی له امریکا نه ترالمانه پوری ټولو په یوه غږ د اسرائیلو دفاع ته ورودانګل اوله پاتریات(Patriot) توغندیو نه تیسولی ترکیساوی ښد توانګونو پوری یی ورته راولیږل. اودیارلس زره ملیونه ډالره نغده سرسته یی ورکړه ترڅو دفلسطینیانو په نړولو کسورونو باندی دنړۍله مسخه راتولیدنکو یهودانو ته کورونه اباد کړی. « دتیلو جنګ ۸۷مخ » لاندی بیلګوته یه لژ په غورسره وګورو؛

اوس نو وګورو چی دملګرو ملتونو دنړۍ په نورو هیوادونو کی هم دارنګه چهك او زورور گاسونه دمتجاوز ، ظالم او یرغلګر ځواك په مقابل کی پورته کړی دی او که نه ؟ دنړیوال قانون او بشری حقوقو څخه یی دا رنګه عملی دفاع کړی ده او که نه؟

۱- دجون په ۵. ۱۹۶۷م کال کی اسرائیلو دشپی په وروستۍبرخه کی دمصر په هوایی ډګرونو باندی په ولاړو الوتکو په ناخبری‌باندي یرغل وکړ چی دهغه هیواد ۳۰۰ الوتکی یی ځای په ځای تباه کړی او ۱۹ هوایی ډګرونه یی له مینځه یوړل‌او دمصر هوایی ځواك یی بالکل ورتباه کړ، وروسته داسرائیلو ځمکنی ځواك دخوځیدو عملیاتو په ترڅ کی دمصر دسینا دښته ، داردن دغزا ترانګه اویه ماسیپښین کی یی دسوریی دګولان لوړی ترخپلی ولکی لاندی راوستلی. په مصر برسیره د اردن اوسوریی دهوایی ځواك زیاتی الوتکی یی هم ورتباه کړی ، خود ملګرو ملتونو رول یواځی تر څو غندنو او افسوس څرګندولو پوری محدود وو.

۲- روسانو په افغانستان کی لومړی دکمونستانو په واسطه په ۱۹۷۸م کال کی دبوی کودتا په ترڅ کی‌دداؤد رژیم رانسکور کړ او دK.G.B په لاس جوړشوی کمونیست حکومت یی رامنځ ته کړ اوبیابی ددسامبر په ۲۹، ۱۹۷۹ م کال کی نیغ په نیغه نژدی دوه لکه روسی قوځونه په داسی حال کی ورمرش کړل چی حفیظ الله امین یی ووژلو او د.K.G.B مشهور غړی ببرك کارمل یی دتاجکستان ددوشنبی له راډیو څخه دافغانستان جمهور رئیس اعلان کړ اوهم یی دده بیانیه له همهغی راډیو څخه دراډیو دافغانستان په عنوان خپره کړه ، ملت د روسی یرغل او کمونیستانو په مقابل کی جهاد پیل کړ چی په نتیجه کی یی یونیم میلیون افغانان د روسانو په ظالمو لاسونو باندی شهیدان شول. دلته هم دملګرو ملتونو دمؤسسی رول یواځی غندل اومحکومول وو او هیڅ کوم داقتصادی بندیز یانظامی مقاومت کومه مصوبه تصویب نه شوه؟

بلکی برعکس کله چی روسان دافغان مجاهدینو په لاسونو رابه ګونډو شول نو ملګرو ملتونو دخائنو کمونیستانو اومسلمانو مجاهدینو ترمینځ دبراخ بنسټیه حکومت ترعنوان لاندی دائتلافی حکومت دجوړولو هلی ځلی پیل کړی څو کمونیستو خاینانو ته قانونی تحفظ اوساتنه ورکړی او روسان دافغانستان د ورانولو له تاوان څخه وژغوری.

خدمات دینی واجتماعي علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء وجامعهء روحانیت کشور محافظین وسپاهیان مرحدات جغرافیایی ونظریاتی کشور اند

قلعه جوادی

قسمت پانزده هم

جبهات سه گانه جنگ علیه انگلیس

در جهاد کبیر استقلال کشور جبهات عمده واساسی سه گانه جنگ علیه نیروهای متجاوز واستعمارگر انگریز عبارت بودنداز:

۱- جبهه جنوبی (پکتیا) ۲- جبهه شرقی (خیبر، چترال) ۳- جبهه قندهار از نگاه امکانات مادی وفنی وسوقیات واداره وتجهیزات جنگی وعسکری هیچ نوع توازن وتطابق میان نیروهای دشمن (انگریز) ونیروهای مجاهد افغانی در میان نبود، وبه این ارتباط واساس اگر گفته شود که به نیروهای مجاهد افغانی در مقابل نیروهای انگلیس اطلاق یك جبهه به مفهوم ومعنی اصلی آن (جبهه عکسری) شده نمیتوانست مبالغه در میان نخواهد بود امابه ارتباط نیروی معنوی وموزال جنگی ،بالعکس میان نیروهای مجاهدین ونیروهای انگلیس تفاوت زیادی در میان بود، روحیات ونیروی عالی معنوی مجاهدین به مراتب بیشتر وقویتر از نیروی مقابل (انگریز) بود و همین برتری عظیم الشان دینی ومعنوی بود که مجاهدین را باناتوانیهای مادی وظاهری بر نیروی نادنفان مسلح به وسایل واسباب مدرن جنگی وقت پیروزی تاریخی ودر خشانی تحت شعار وعقیده ئی « اگر کشته شدیم شهید واگر زنده ماندیم غازی» نایل گرداند.

درابنجا به واقعیت وحقیقتی تاریخی که زاده خصوصیت هر جامعه اسلامی که افراد آن واقعاً مومن ومخلص بادین خدا میباشد اشاره شد که این خصوصیت به یك جامعه ، قوم ، قشر، اقلیم وزمان ومکانی محدود و محصور نبوده ونمیباشد بلکه در هر وقت وزمانی وهر جای ومکانی که مسلمین واقعاً به دین خدا «جل جلاله» تشبث وتمسك کامل وهمه جانبه داشتند از چنین مشخصات ،مواصفات وبرتری برخوردار بوده وشده اند وهمیشه در تقابل ورویاروی دشمن باقلت وناچیزی وسایل مادی ، پیروزی نصیب شان گردیده است .

وباید در کنار اشاره به ان حقیقت تاریخی، به این حقیقت وواقعیت تاریخی نیز اشاره نمائیم که:

بسیج وقومانده آن نیروی معنوی وروحانی را نمیتوان توسط یك شخصیت عسکری، سیاسی و... که فاقد حیثیت ومقام روحانی ومعنوی درمیان مردم باشد به کار انداخت. واز آن استفاده لازم برد بلکه وجود واثر مستقیم وغیر مستقیم شخصیتهای در میان توده، هاخصوصاً در صفوف جنگ وکار زار ضروری میباشد که دارای اثر ونفوس روحانی ومعنوی لازم باشند تاتوانسته باشند که توده ها ونیروهای رزمی آنها را به یك تقابل وجنگ غیر مساوی وغیر برابر از نگاه امکانات مادی وعسکری سوق نمایند. دشمنان اسلام چه یهودی باشد چه عیسوی وچه هندو وچه دهري وکمونست وهمه به این خصوصیت، واقعیت وحقیقت موجود در طول تاریخ متوجه بوده وبه وجود این راز مهم در میان اجتماع واقعاً اسلامی پی برده اند. از همین جاست که به اشکال وانواع گوناگون و مختلفی مؤجدانه کوشیده اند که علیه جامعه روحانیت وعلماء دنیا اسلام قرار گرفته از هر طریقه و وسایل ممکنه مادی وتبلیغاتی ووسیعاً کار میگیرند تا از اثرو نفوذ جامعه روحانیت وعلماء در میان مردم وملتهاشان بکاهند که متأسفانه در بعضی مواردی به این ارتباط پیروزی قابل ملاحظه ئی بدست آورده اند وبواسطه عناصر سیکولر جوامع اسلامی که قوی ترین وبرنده ترین وسیله یی دردست کفار یهودی، عیسوی و... علیه دین واهل دین در میان مسلمانها میباشند ضربه، محکمی برحاکمیت دین وجامعه روحانیت وارد نموده اند که ذکر تفصیل آن از حوصله این مقال مختصر بیرون است.

اگر ما به موقعیتهای نظامی طرفین (انگلیس ومجاهدین افغان) در جنگ سوم افغان - انگلیس نظر بیاندازیم به وضوح مشاهده کرده میتوانیم که میان نیروی عسکری افغانی وانگلیسی به هیچ نوع وشکلی آن توازن وتقارب نه در تعداد افراد منظم وتربیه دیده ونه در مهارت جنگی ونه در وسایل وتجهیزات جنگی ونه در مواد لوژستیکی وترانسپورتی دیده میشد و نه قوای جبهات سه گانه افغانی با فقدان نیروی مادی از هم اهنگی وقومانده مرکزی برخوردار بودند. تنها وتنها عامل اساسی پیروزی طرف افغان در موجودیت عزم راسخ وایمان کامل به تقدس وحقانیت جنگ ونتایج محمود ان در حیات دنیوی واخروی ودر کنار این همه ایمان کامل به نصرت الهی جل جلاله ووجود رهبری دینی ، معنوی وملی جامعه روحانیت بود که احساسات دینی وحمیات ملی جامعه افغانی را به شور وهیجان آورده اند وبطرف مطلوب سوق کرده وقیام ضد انگریز را به پیروزی کامل رساندند.

موقعیتها نظامی طرفین:

الف - انگلیس:

انگلیس استعمارجو که فاتح عمده ومهم جنگ جهانی اول پنداشته میشد مغرور تر از گذشته باتمام نیروو قدرت برای حفظ مستعمره، غنی وحیاتی خود (هند) درصدد جلوگیری وسرکوب کردن از قیام وانقلاب بزرگ مردم افغانستان برآمد وسیل سپاه ولشکرهای او سراسر سرحدات افغانی را فراګرفت . در حالیکه سپاه قلیل واندك عسکری افغانی بدون وسایل ثقیل نظامی زمینی وهوائی وراهای مساعد مواصلاتی پای پیاده وبه پای اشتر واسپ و... وسایل اندك نظامی ولوژستیکی خود را بطرف سرحدات به حرکت در آوردند وحتی در جبهه پکتیا از موانع ابی و راه های دست نخورده وصعب العبور ، لوازم جنگی وارابه توپ را بادست عبور میدادند.

انگلیس مکار در کنار فعالیتهای نظامی به فعالیتهای جاسوسی هم اقدام وورزید وبهسرای هند به مقامات صوبه سرحد امر کرد که بامصرف بی محابای پول مردم قبایلی را علیه افغانستان بکار بگیرد ، وبه همین صورت در هر جا کوشیدند که بساط فساد وافتشاشها ونفاقهای داخلی را پهن دارند. مگر تمام این اقدامات وتوطئه های استعمار انگریزی در مقابل اراده ونیروی ایمانی ومعنوی ملت مجاهد افغان به رهبری اگاهانه جامعه روحانیت ونیروهای ملی ناچیز واندك بوده ونتوانست مانع از عزم راسخ ملت گردد، نیروهای عسکری وامکانات نظامی انگلیس در جبهات جنگ به ادعای (غبار) ازاین قرار بود : ۱- جبهه شرقی (خیبر) یك فرقه پیاده پشاورکه شامل برچهارده کندك بود بایك غند سواره (۳کندك) ۱٤٦ توپ ، ۱۰٤ ماشیندار ، چند فروند طیاره بمب افگن ، چهارتولی ماین ګزار ، یك کندك پیش قراول با دوفرقه پیاده احتیاط عقبی (۲۸ کندك) ودولوای سوار ودر جریان حمله متقابل انگلیس علیه قوای افغانی در ۱۱مئی یك فرقه جدید انگلیس از راولپندی وارد خیبر شده بودند قوای عسکر ساخلوی محافظ وملیشه های سرحدی انگلیس به آن علاوه میګردید. قومانداتان انگلیس در این جبهه عبارت بودند از: جنرال کلیمو، جنرال فاولر، دگروال کراکر ودگروال بالدوین.

۲- جبهه قندهار: قوای عسکری انگلیس در این جبهه ازاین قرار بود: عسکر پیاده یك فرقه (۱٤ کندك) پیاده هندی سه کندك ، سواره انگلیس یك لوا ، سواره هندی یك لوا ، پیاده محافظ راه اهن سه کندك، سواره محافظ دوتولی استحکام ، دو تولی طیاره بمب افگن دو فروند باتوپ خانه قوی وذخایر زیاد لوژستیکی وسفربری.

قومانداتان عمومی لشکر متجاوز انگریزی در کویته جنرال واپ شیر بود.

۳- جبهه جنوبی (پکتیا) : قوای عسکری انگلیس استعمارجو عبارت بود از: ۱٦کندك پیاده ، ده تولی سواره ، دو تولی استحکام ، هفت باتریه توپ ، یکتعداد موتر زره دار وچند طیاره بمب افگن به علاوه چندین کندك ملیشیایی در می ۱۹۱۹م قوای مذکره انگریزی توسط غند اسپاله وکاینډ سوم ودوبتالیون پیاده ، یك سکادرون سواره ، چهارتوپ ومتعاقباً بایك رجمنت سواره وچهار بتالیون جنرال اوستاس تقویه گردید. بعمارمدت کمی دوبتالیون پیاده ، یك سکادرن سواره ، چهارتوپ وباز دوبتالیون پیاده امدادی در محاذ تل آورده شد. در دوران جنگ دوغند عسکر امدادی از فرقه ۱٦ وغند ٤٥ جنرال بیشون با دوبتالیون پنجابی ویك باتریه توپخانه از پشاور وباتریه -۸۰- ومقداری عظیمی جبه خانه وارد محاذ جنگ شد.

وهمچنین غند چهاره جنرال دایر باچهارتوپ دیگر رسید. قومانداتان این قوای بزرگ انگلیس در محاذات مختلف جنگ از این قرار بود : در محاذ تل قوای انگریز زیر قیادت جنرال اوستاس قرار داشت که بعدها در اثر مغلوب شدن در مقابل مجاهدین افغانی معزول وعوض آن جنرال دایر توظیف گردید. قشون انگریزی در وزیرستان تحت قیادت جنرال اودت اداره میگردیدکه اونیز مثل جنرال اوساس در مقابل مجاهدین مغلوب ومعزول گردید وقوای وزیری انگلیس مستقیم تحت اداره قومندانی عمومی اردوی هند قرار گرفت . قومانداتی قشون انگلیس مقیم وزیرستان جنوبی به جنرال رسل تعلق داشت وقومانداتان قشون بنو جنرال لوکاس بود ودر کوهات دوغند پیاده وسوار بادوکندك پنجابی ویك دسته ماشین دار ، ودر پاره چنار دوغند پیاده وسواره ویك قطعه ملیشیا ویك دسته توپخانه موجود بود. قومانداتان قوای ملیشیایی کرم نیز جنرال دات بود.

ب - مجاهدین افغان :

قوای عسکری دولتی افغانی در مقابل قوای بزرگ ومنظم انگریزی در جبهات سه گانه جنگ از این قرار بود:

۱- جبهه شرق (خیبر) قوای دولتی افغانی در این جبهه چنین معرفی گردیده است: دوغند (٦کندك) یك کندك سواره ، یك کندك توپچی و ٤٨ توپ.

قومندان این نیروی محدود مختصر ، وزیر جنگ جدید افغانستان سپهسالار صالح محمد خان ورئیس ارکانش کندك مشر محمد گل خان مهمند بود.

۲- جبهه قندهار ، قوای دولتی عسکری افغانستان در آن جبهه به این قرار معرفی گردیده اند:

درقندهار یك غند پیاده (سه کندك) ۲کندك سواره وتوپچی تحت قیادت غلام نبی خان بخسری غند مشر قرار داشت، درقلعه جدید سرحدی (سپین بولدك) ۳۰۰ نفر سپاهی (۳تولی) تحت قرمانده داود شاه کندك مشر ومحمد یوسف خان قرار داشت، وسه صد نفر دیگر در تهانه های سرحدی تقسیم بودند. در اپریل ۱۹۱۹م یك قطعه عسکر به قیادت سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدولة از کابل به جنوب قندهار سوق گردید، اعتماد الدولة در عرض راه بود که در محاذ شرق جنگ میان افغان وانگلیس اغاز گردید.

۳- جبهه جنوبی (پکتیا): قوای عسکری دولتی در این جبهه عبارت بود از: یك غند پیاده (۳کندك) ، یك کندك سواره ویك کندك توپچی ، به قومانداتی عبارك شاه غند مشر در خوست وقومندانی غند مشر محمد علم خان در علی خیل در ۲٤ اپریل - ۱۹۱۹م قوه دولتی پکتیا از طرف کابل به واسطه دو کندك پیاده ودو تولی سواره وده توپ تقویه گردید.

قومانداتان عمومی دولتی این جبهه جنرال نادر خان بود.

وضع عقبی جبهات ومرکز فرماندهی عمومی از این قرار بود:

غبار به وضع عقبی جبهه چنین اشاره داره: « قبل از اشتغال جنگ سوم افغان وانگلیس در پایتخت افغانستان ازنظر سوق جیشی ، کدام مرکز عالی سوق واداره اردوی افغانستان وجود نداشت و تشکیلات از سویه لوا ، بالاتر نمیرفت. به علاوه از نظر تجهیزات واحضارات حربی اردوی افغانستان فقیر بود.

نقلیه ماشینی وراه های ارابه رو ، مخابرات تلگرافی وتیلفون باوسایل صحی سفری وجود نداشت . تنها جلال آباد توسط جاده موتر رو وسیم تلفون وصل میشد ... سوقیات واداره جنگ در جبهات سه گانه هماهنگ نبود ، چنانکه ستون اعزامی خیبر در اوایل می ۱۹۱۹م دست به سلاح برد و قوای پکتیا در اواخر این ماه در حالیکه قوای اعزامی قندهار وقتی سرحد دشمن را عبور کرد که جنگ تمام ومتارکه اعلان شده بود.

در هرحال این جنگ غیر مساوی بین افغانستان وانگلیس شروع شده بود وتمام جبهات افغانی از اوضاع هم دیگر بی خبر و در تاریکی فعالیت میکردند وحتی ارتباط شان با مرکز توسط نامه وقاصد حفظ میشد...

از طرف دیگر مرکز دولت (کابل) خالی از شوری عالی جنگ وافسران عمده مجرب بود که بر تمام جبهات رسیده گی کرده بتواند. پس تمام ثقل این وظیفه معظم بر دوش شخص شاه می افتاد که از نظر معلومات حربی واوضاع جغرافیائی محاذات هر دو طرف کم سرمایه بود وقضایای عمده حربی در مجلس مشوره نیمه نظامی شاه رسیده گی میشد. این مجلس مرکب بود از وزرای کم کوچکترین آشنایی با امور نظامی نداشتند ودر بین همه یك مرد نظامی وطرف اعتماد شخصی شاه بنام « محمود سامی پاشا » وجود داشت، این شخص گرچه در جنگهای داخلی وخارجی اشتراك نکرده وبه مرض نقرس تمارض میکرد ولی در مجلس مشوره نظامی در صف اول قرار میگرفت و رأی میداد . »

هر انسان چی له ژبنی، نژادی او قومی تعصب نه پرته دخپل ملت خدمت نه ...

رئیس محترم ملا محمد حسن اخند حاضرینوته په خطاب کی وویل: په هر وخت اوزمان کی لوی خدای(جل جلاله) ددین دخدمت لپاره ګینی اشخاص انتخابوی او دزمان په دی مقطع کی ددغه ستر خدمت لپاره کیدای شی ددغه تحریک پیروان ورګرزیدلی وی.

ده وویل: له بلی خوا موږ الله جلا جلاله له یوی لویی ازمویښی سره مخامخ کړی یو او هغه داچی موږ باید همیشه د خدای(جل جلاله) په دربارکی زاری وکړو چی موږ ته ددین دخدمت توفیق راکړی اوهغه شان ددین خدمت رانه واخلی لکه څنګه چی ددین دخدمت تقاضا ده.

ده وویل: چانه چی خدای(جل جلاله) قدرت ورکوی هغه په یو امتحان کی اچوی، نو څوك چی په دی امتحان کی بریالی کیدل غواړی نوباید له سوچ اوفکر نه کار واخلی اوکه نه نو هغوی به خدای(جل جلاله) داسی هلاك کړی لکه پخوانی سر غړونکی یی چی هلاك کړی دی.

ده زیاته کړه: موږ باید دی ته خوشال نه شو چی قدرت ته رسیدلی یو بلکی موږ باید د الله ددین خدمت وکړو، د خدای(جل جلاله) دبندګانو خدمت وکړو، دخپل وطن خدمت وکړو دکونډو اویتیمانو اوښکی ورپاکی کړو خلك ددین تعلیم ته راوبولو او داسلامی نظام په حقیقت اوفوایدو یی وپوهوو.

ده وویل: زموږ هیوادوال ډیر ځوریدلی دی، نو موږ ته لازمه ده داسی عمل وکړو چی دخپلو هیوادوالو دکلونو کلونو غمونه پای ته ورسوو، له خلکو سره باید له ښو اخلاقو اوښه سلوك نه کار واخلو ځکه موږ او تاسو دمسئول په مرتبه کی قرار لرو.

ده زیاته کړه: خدای(جل جلاله) دی موږ ته دښو اخلاقو توفیق راکړی چی له خپلو هیوادوالو سره په اسلامی سیرت وچلیږو، څو مو خپل مسئولیت ادا کړی وی او دلوی خدای(جل جلاله) رضا مو ترلاسه کړی وی.

ده دخبرو په پای کی وویل: هر مسئول باید خپلی وظیفی ته متوجه وی خپل مسئولیت وپیژنی، کومه لایحه چی ورکړل شوی ده دهغی په چوکاټ کی دی کار وکړی، دبل په کار کی دی مداخله نه کوی، په دولتی املاکو کی دی بی ځایه تصرف نه کوی او دمشرانو په هدایت دی کار کوی، که کوم مشکلات ورته متوجه کیږی له خپلو مشرانو نه دی هدایت غواړی.

ده وویل: دبیت المال په باب باید ژور فکر وشی، بیت المال دی شخصی نه بلل کیږی اونه دی په شخصی ګټه استعمالیږی، کوم ملګری چی اختلاف راولی دهغوی مخه دی ونیوله شی، تواضع اوکمښتی دی ځان کی پیدا کړای شی له کبر اوغرور څخه دی ځان وساتل شی، هر یو باید په شرعی لباس ملبس وی، دښوونی او روزنی چاروته دی

چندی پاملرنه وشی ترڅو راتلونکی نسل دخدای(جل جلاله) په لاره برابر وروزل شی څو که داسی ونه شی نو دهغوی دګناهونو ټول بوج به زموږ اوستاسو په اوږو بار وی.

تر ده وروسته د دارالافتا رئیس محترم مولوی نور محمد ثاقب دخپلی وینا په یوه برخه کی وویل: په تیره تردی سوده کی تاسو په مدرسو کی طالبان وئ او اوس دولایتونو مسئولین یاست چی په دی توګه اوس ستاسو پر اوږو ستر مسئولیتونه پراته دی ستاسو په سیمو کی دټولو عملونو ځواب به تاسو ورکوئ.

ده وویل: تاسو باید تقوی، تواضع اواطاعت ولرئ. تقوی د اسلامی نظام لپاره پایه ده نوځکه باید تر هر څه دمخه تقوی ولرو، هر انسان باید لومړی خپل ځان وپیژنی، چی ځان یی په واقعی توګه وپیژانده نو بیا دچوکی اومقام غوښته نه کوی څوك چی پخپله خوله چوکی وغواړی له هغه سره په کارونو کی د خدای(جل جلاله) نصرت نشته څو که کوم مسئولیت دنورو له خوا وروسپارل شی دهغه په اجرا کی دخدای(جل جلاله) نصرت ورسره وی.

ده زیاته کړه: موږ باید دخپلو هیوادوالو خدمت وکړو، هر مسئول باید دخپلی سیمی دخلکو دمشکلاتو پوښتنه وکړی او دهغوی له مشکلاتو نه ځان خبر کړی، دقیامت په ورځ به له هر مسئول څخه دهغه درعیت پوښتنه کیږی. نو موږ هم باید ددغه اصل له مخی خپله هغه تګ لاره تعقیب کړو چی دتحریك دپیل په لومړی ورځ مونټاکلی ده نو په دی توګه زه باور لرم چی داسلام بیرغ به په ټوله نړی کی اوچت شی.

دعلماو، والیانو اوقوماندانانو دغه دری ورځنی غونډه چی دیو سیمینار بڼه یی درلوده دجمعی تر ورځی پوری روانه وه.

دجمعی دورځی غونډه چی دتنظیمیه رئیس محترم ملا محمد حسن اخند په مشری جوړه شوه دقاری محمد اسمعیل له خوا دعظیم الشان قرآن دځو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وروسته داسلامی تحریك ددیوان او تحقیق رئیس محترم مولوی محمد افسر وویل: زموږ داننی غونډه په هیواد کی دفساد اوناوره کړو وړو دله منځه وړلو لپاره جوړه شوی ده، موږ به کوښښ کوو چی دلوی خدای(جل جلاله) د اوامرو په رڼا کی خپل ورځنی کارونه پرمخ بوزو.

تر ده وروسته دهلمند والی محترم مولوی عبدالباری اخند پخپله وینا کی وویل: دطالبانو اسلامی تحریك چی کوم بریالیتوبونه ترلاسه کړی دی دغه ټول دلوی خدای(جل جلاله) فضل اومهربانی ده ځکه طالبان دخدای(جل جلاله) په ځمکه د خدای(جل جلاله) دقانون پلی کول غواړی چی زما ددی ادعا سه ثبوت دطالبانو تر کنترول لاندی سیمو کی داسلامی عدالت تأمین او

دامنیت ټینګښت دی.

ده زیاته کړه: موږ باید دخلکو ارمانونه تر خاورو لاندی نه کړو، طالبان باید له ژبنی، سمتی، منطقوی، قومی او نژادی تبعیض څخه په کلکه ځانونه وساتی او هغه لاره خپله کړی چی دخدای(جل جلاله) اودهغه درسول صلی الله علیه وسلم رضا پکی پرته وی.

تر ده وروسته دعالی شوری غړی محترم مولوی احسان الله احسان پخپله عالمانه او ولوله انګیزه وینا کی وویل: نن چی دنړی مسلمانان دکفارو له خوا له ډول ډول مشکلاتو سره مخامخ دی هغه له دی کبله چی په نړی کی فساد خپل اوج ته رسیدلی دی اودمسلمانانو په عملونو کی هم انحراف راغلی دی.

ده وویل: که مسلمانان پخپلو عملونو باندی نوی نظر وکړی اوخپل عملونه اصلاح کړی، پخپلو کی متحد اومتفق شی نوله ټولو مشکلاتو څخه به نجات ومومی او لوی خدای(جل جلاله) به دغه ټول مشکلات رفع اودفع کړی.

ده زیاته کړه: دظلم اواستبداد مقابله هغه وخت کیدلای شی چی دلوی خدای(جل جلاله) له قانون سره سم عمل وشی، په افغانستان کی جهاد وشو خو افغانانو خپل اصلی هدفت ته چی دخدای(جل جلاله) ددین پلی کیدل دی ونه رسیدل علت یی دادی چی ځینو مدعا طلبو اشخاصو دخپلو خواهشاتو مطابق داسی کارونه وکړل چی په نړیوالمسطحه یی جهاد بدنام کړ.

ده وویل: دجهاد دثمر د ترلاسه کولو لپاره طالبانو جهاد پیل کړی دی خو دنړی کفار اودهغوی غلامان دطالبانو دتحریك پرخلاف ناوړه تبلیغات کوی دهغی وجه داده چی موږ دچاغلامی نه منو.

تر ده وروسته تنظیمیه رئیس محترم ملا محمد حسن اخند پخپله عالمانه وینا کی وویل که موږ له خدای(جل جلاله) څخه وویریږو او خپلو مشرانو په نیکو لارښوونو عمل وکړو نو تاسو ته په ډاډ سره ویلای شم چی موږ به دخپل هدف په ترلاسه کولو کی بریالی شو.

په پای کی امیرالمؤمنین محترم ملامحمد عمر مجاهد پخپله عالمانه وینا کی وویل: داسکاره ده هر انسان چی له ژبنی، نژادی او قومی تعصب نه پرته دخپل ملت خدمت ته ملاوتړی هغه به ټولو چارو کی کامیاب دی موږ باید کوښښ وکړو چی دخپلو خلکو ارزوګانی پوره کړو. نن چی دری ورځنی غونډه پای ته ورسیده پرتاسو لازمه ده چی خپلو وظیفو ته په درنه سترګه وګوری او دځان پر اصلاح سربیره دخلکو اصلاح ته هم خپل پام راوګرځوئ. غونډه دمولوی عبدالرشید په دوعائیه وینا پای ته ورسیده.

وطن ته

عبدالحنان = همت

زما وطنه د ننګـونو کوره
زار شـم لتا دغیـرتونو کوره
په خپله غیر کسی دی روزلی بچی
وهـر غلیم ته دمـرګونو کوره
په هره دسته او بیدیا کسی داستا
له ویاره ډك ستا تاریخونه وینم
ورانو جونګرو ته دا ستا چی ګورم
دنیپام یم دیر اثـرونه وینم
شته که دی لوت شول اوتیکه تیکه شوی
خوخپل حریت دی لاباقی پاتی دی
که دی سینه کسی پرهرونه جورشول
خولور عظمت دی لاباقی پاتی دی
بیادی په پراخه او سپره لمن کسی
راکـوچیدلی قافلی سکاری
ستا د جورست او دسمون په هیله
په کار لویدلی پرګی سکاری
بیا د تاریخ هغه حلانده حیری
پر خوځیدلو ویښیدلو سکاری
بیا د یـوون او د وحدت قافلی
دهدف خواته په ورتللو سکاری
بیا د همت خاوندان و پاریدل
ستا جوریدل او لوریدل غواړی
د پاکی مینی او احساس له مخی
په سرولمبو ځان وریتول غواړی

پدر گر بود نیکوکار این جا

الشیخ چلاسی

مرض بشنو بدنیا جابجاهست
مرض رالاجرم هرجا دواهست
ولي بیمار گر داند صحیحم
علاجش در کف لقمان کجاهست
پدر گر بود نیکوکار این جا
پسر بي دین بود دیندار این جا

دادب ملغرلی

چه کامل پیراین پیرصاحب
اگر چه او بودمتي خوار این جا
گراین قانون را تسلیم داریم
بدنیا جمله صاحب زاده گانیم
نمیداني که آدم جدما بود
نبي بود او همه اولاد آنیم
مشو توبار برآباواجداد
بکن هر سودوترك هرخلل کن
محمد،ص، گفت روزي فاطمه،رض، را
مشوتو معتمد برمن عمل کن
***

شکلی تحریک دطالبانو

جاوید سلطان «سروري»

ښکلی تحریك دطالبانو امنیت راولی
ژوند دراحت راولی = ژوند دراحت راولی
ښکلی قانون داسلام - وی به ژوندون دارام - هم به سکون وی مدام
غول امیدونه به پوره شی شریعت راولی
ژوند دراحت راولی = ژوند دراحت راولی
نه به ظلمونه کیږی - نه به قتلونه کیږی - سم به کارونه کیږی
پهټول هیواد کی به انصاف او عدالت راولی
ژوند دراحت راولی - ژوند دراحت راولی
ددښمنانو سره - دطالبانو سره - دخائنانو سره
هم له اغیارو سره هروخت عداوت راولی
ژوند دراحت راولی = ژوند دراحت راولی
چی طالبان جنګیږی - نن په میدان جنګیږی - پهٔ آرمان جنګیږی
دافغانانو په مابین کی محبت راولی
ژوند دراحت راولی = ژوند دراحت راولی
بیا به وطن شی آباد - ورك به شی هرځای فساد - مسلمانان به شی ښاد
دګران وطن ورانو جونګړو کی زینت راولی
ژوند دراحت راولی = ژوند دراحت راولی
دسروری داګـلام - په طالبانو سلام - لرونی ډیر احترام
په غدارانو دوطن باندی قیامت راولی
ژوند دراحت راولی = ژوند دراحت راولی

عبادات در اسلام چه مفهومی را افاده میکنند؟

تتبع ونگارش عبدالعزیز (مولانازاده)

مفهوم همه عبادات اسلامی چه نماز باشد، چه روزه وچه ذکات وحج وغیره، اینست که هر فرد انسان را تربیه انسانی دهد واز انسان انسانی بسازد که نه بخود ونه بدیگری اذیت وضرری برساند وحتی جلو آزار واذیت را بگیرد، عبادات برای تهذیب وپاکی فرد وبافت وتشکیل اجتماع وحفاظت آنست که البته تشکیل اجتماع به افراد بیدارو حساس وپاك وباتهذیبی که از وجدان سلیم وفکر سالم برخوردار باشند ضرورت مبرم دارد، در غیر آن روحیه اجتماعی ضعیف وباخواب برده میماند که البته افراد جامعه ضعیف وخواب برده گروهی هستند که حس اجتماعی درآنها درست رشد نکرده وجامعه شان صورت بدوی تی (ارتقانیافته) دارد. پس ازین جهت بمیان آمدن وتشکیل یك جامعه نشانه ومثال تمدن افرادآن محسوب میشود هر قدریکه افراد یك جامعه صحیح وسالم باشند کار وعمل دسته جمعی واشتراك شان در تشکیل جامعه مفیدتر وموثرتر واقع میگردد واز چنین جامعه ایکه افراد آن صالح وباوجدان سلیم میباشند جامعه بمیان میآید که نه بر احساس قبیلوی استوار میباشد و نه بااحساس حزبی وگروهی ارتباطی میداشته باشد بلکی معیار همه ازتباطات وعلایق همچون جامعه را تقوی وخوف من الله تشکیل داده و محض در ساحه خصوصیات سالم انسانی باسایر جوامع ارتباط محکم امن وامان داشته ودر حیات خاص ومنحصر بخودش از هر نوع تشویش واضطراب درامان میماند.

طوریکه بیان شد ودانستیم که اسلام ازطریق عبارت خواهان تشکیل یك جامعه انسانی است ومیخواهد جامعه ای بوجود آرد که در ارتباطات عمومی وکتله وی برکسی تعدی وتجاوزی بعمل نیاید وانسان در زندگی شخصی خودش مطمئن وتسلی باشد از همین جهت اسلام همه مسلمانان را بیك نظر دیده و به این معنی فرموده است:

« ای مردم شما را از یك مرد ویك زن بوجود آورده ایم به شعب وقبایل وگروه گروه تقسیم کرده ایم تا یکدیگر رابشناسید که این تقسیم بخاطر شناسایی وشناخت تان است نه سبب دشمنی وایجاد تفرقه درمیان تان والبته نزد خداکسی مکرم تر است که باتقوا تر وبه هدایات اسلامی زیاد پابند باشد. »

بنابران هم عبادات اسلامی متوجه اطمینان افراد وتأمین امنیت جوامع بوده است، وقتاً که اسلام از طریق عبادات اسلامی روحیه اجتماعی را در پیروان بیدار ساخت ویك اجتماع اسلامی وجامعه انسانی ازآن بوجود آورد، سپس برای اینکه این اجتماع منحل نشود وخود پای خودش را قطع نکند با تاکیدات سراسر کمك وباری درنیکویها را بیکدیگر ومخالفت امتناع از تهاجم وتجاوز را بریکدیگر صادر فرموده ومیفرماید: «

درنیکی وتقوا بیکدیگر تان یاری ومعاونت دهید ودر گناه وتجاوز هم از کمك باهم حذر نمایید واجتناب کنید. » البته آن انسانی که مستقیماً بامجرم ومتجاوز کمك نکرده ولی در امور زندگی او را تقویه میدهد واز ظلم وتعدی وگناه واذیت زبان ودست وغیره منهیات در خورتوان خود شان متجاوز ومجرم را باز نمیدارند ومخالفت نمیکنند، معاون ومددگار اومحسوب میشوند، چه همین عدم مخالفت به مجرم وظالم موقع ظلم وزور وجبر را مساعد میسازد پس بخاطریکه فکر شخصی یك مسلمان بطرف ظلم وتجاوز وتعدی سوق نشود، بعمل واحسان ودوستی بادوستان خداوند ج، امر وهدایت میکند واز امور ناجایز وناشایسته وتجاوز وتعدی منعش مینماید عدل وعدالت را در همه امور زندگی با وتوصیه کرده ولازم التأمین میداند، در شهادت در حکم وفیصله وروایت قولی وامری نیز احسان وعمل راچه در مال باشد وچه در علم لازم ساخته واز هر نوع که ضرر به نفس یا ضرر بدن وجسم یاضرر بمال وحیثیت وآبرو باشد ممانعت مینماید که اطاعت ازین اوامر جامعه انسانی را یکجامعه مستفید از عدالت، امنیت واحسان ساخته وجامعه، میگرداند که از کارهای ناشایسته وخلاف انسانیت دریغ میورزد وبظلم وزورگوری بدیده نفرت وانزجار می بیند. وبالاخره جامعه، دارای اخلاق نیکوی انسانی ازان بوجود میاورد، باوصف اینهمه صفات ومزایا جامعه اسلامی چنانکه تجاوز وتعدی را مذموم میداند خفت وذلت را هم نمی پذیرد وانسان مسلمان وجامعه آن چنین نیست که سلی وقفاق کسی را برخسار خود تحمل کند چه پیشوای اسلام میفرماید:

« در تعلیمات من با تعلیمات حضرت عیسی علیه السلام تفاوتی هست وآن اینست که حضرت عیسی به پیروان خودش میفرمود که اگر کسی بر رخسار راست شما سلی بی حواله کرد تحمل کنید وبگذارید که اگر خواسته باشد سلی بی دیگری هم برخسار چپ شما بزند ولی من بشما میگویم که اگر کسی بر خسار راست تان سلی بی حواله کرد شما باهمان ضربت برخسار راستش سلی وقفاق بزنید تا باز جرائت زدن قفاق دیگری از اوسلب شود. »

لذا انسان مسلمان با درنظر داشت عدالت قصد وانتقام خود را میگیرد ووقتی عفو مینماید که جانب مقابل ممنون گردد وداغ یك ذلت برجبین مسلمان زده نشود. خداوند «ج» به این معنی میفرماید:

« اگر کسی برشما تجاوز کرد پس باوجواب مماثل بدهید وزور پنجه اورا با زور پنجه بشکنید، تجاوز ،تعدی میماند ودر موقع انتقام رویه انسانی تانرا از دست ندهید

ومخالف مبادی انسانی از زورگوی وظلم کار میگیرند» وقرآن به این معنی میفرماید: «شما را از اتخاذ رویه نیك وعدالت پسندیده باکسانی منع نمی نماید که نه با شما از طریق دشمنی مادی شمشیر بدست گرفته ونه شما را از منازل وخانه ای تان بیرون رانده اند. »

میفرماید: «دشمنی شما باقومی باعث روگردانی تان از عدالت در برابر آن قوم نشود. »

از اینجاست که پیغام اسلامی ورسالت آن سوی جانبداری ساختار یکجا صفه قوی انسانی باشد دارای عزم متین و اراده قوی وملت مملو از دوستی وبرادری در صحنه اجتماعی است. لهذا آنچنان جامعه ایراکه چون سنگ زیرین آسیاب ذلیل وسرافگنده وبی غیرت باشد نمیپذیرد زیرا اسلام پیغام زندگی واقعی وسرافراز باشان وجامعه میاورد که اراده محکم ،عزم راسخ واختیار وصلاحیت انسانی داشته باشد، بفحوای این پیغام ماعمل گروه واجتماعی راکه بغرض قدرت طلبی وامحای جماعت برادر ومسلمان بادشمنان دین وناموس ووطن بیشرمانه وذلیلانه دست استمداد دراز میکند ومیخواهد بابدست آوردن تجهیزات ووسایل جنگی وپشتیبانی مادی ومالی آنان برایکه قدرت باقی ماند وازآبروحیثیت وافتخارات بزرگ جهادی وتاریخی مشهور قوم مردم ووطن خویش بگذرد وصرف نظر کند وکروکور عواقب ناگوار عمل قدرت طلبی خویش شده باشد، شرم آور وننگ آور میخوانیم ونمیتوانیم چنین گروه وجماعتی را نه گروه اسلامی وجماعت مسلمان بخوانیم وپیغام روشن وواضح اسلام وقرآن را در مورد ناخوانده وناشنیده بگیریم. قبول این پیغام اجتماعی وباوجود آوردن یك عدالت کامل درجامعه وجلوگیری از هر نوع ظلم وتجاوز مستلزم است که افراد جامعه از ازادی کامل اخلاقی انسانی ومتانت کلی برخوردار باشند، البته مسلمانی از نظر اسلام این نیست که انسان بخورد وبنوشد تاقوت بیابد بلکه مسلمانی این است که مسلمان مصدر خیر گردد وبخاطری از وسایل معشیت کار بگیرد که خصائل انسانی را قیام واستحکام بخشد واز هر نوع حرکت ناجایز دوری جوید.

در اسلام تکلیفی بخاطر تفریح وساعت تیری وخوشگذرانی نشده بلکه تکلیف مسلمان از روی اسلام اینست که تمام وسایل معشیت را درتأمین عدالت بکار برد تا برادری بمیان آید وکمك ودستیاری قائم گردد جلو ظلم وتجاوز گرفته شود و امور خلاف عدالت ازبین برود.

در اسلام روابط اسلامی از روابط قومی بلند

ترابت وبرادری اسلامی از برادری نسبی محکمتر میباشد زیرا رابطه اسلامی بر اساسات اسلامی استوار ست وبرادری اسلامی، برادری در راه یکهدف وتعهد میباشد پیغام اسلامی نه مثبی کدام انسان اجتماعی است ونه کدام راه وطریق تربیه ازطرف بشر است چه اگر چنین میبود امکان نداشت که بهمه انسان مفاد برساند وقیر از گروه وطبقه خاصی بسائر مردم راه تربیه درست را نشان دهد، زیرا هر انسان منحیث انسانی محکوم اوضاع ازثی خانواده خودش وعوامل طبیعی است ونمیتواند برای افراد خانواده ومحیط دیگری که با او درین عوامل اختلاف دارد راهی را تعیین بنماید وخط مشی بسازد، لذا پیغام اسلامی رسالت وپیغام آن ذات قادر متعالست که بر هر چیز دانا وقادر ومالك آسمانها وزمین وخدای کل اختیار میباشد که صلاحیت تمام انسانها را داراست.

اسلام تنها تصور ونظرنیست بلکه اسلام ایمان وتقوا را گوید، این ایمان در انسان سبب اعتماد برنفس ووسیله خوبیها ومنافع اجتماعی است ومسلمان را ناگذیر میسازد تادر بنا وبقای یکجامعه انسانی سهم کامل بگیرد، اسلام عطیه خدای واحد است، این عطیه را خداوند به بندگانش عنایت فرموده وتنها مردمی کافر میشوند که این عطیه را نمیپذیرند، این عطیه نظام زندگی آرام ومطمئن را برای انسان بوجود آورده ونظام فرد و جامعه هر دو میباشد. اساس این نظام را چنان طبیعی میداند که باوجود داشتن شهوت قیادت هم میخواهد ویا وجود انانیت وخود خواهی احساس اجتماعی هم دارد وبرای زندگی مشترك سازگارست.

توجیه اسلامی از یکطرف در انسان اراده قوی پیدا میکند تامانند حیوان لایعقلی زیر یوغ دیگر گردن ننهد وزیر اراده غیر حرکت نکند واز جانب دیگر احساس اجتماعی را در اوپرورش میدهد ومتوجه اش میگرداند که جامعه خودش را از انحلال وسقوط وضعف وناتوانی نگهدارد ویکجامعه انسانی را برای همیش قوام بخشد که به این اساس نظر واحد است وآن اساس تعلیمات اسلامی میباشد این توجیه دارای سه هدف است ، اراده قوی احساس اجتماعی وبقا وتقویه جامعه پس اگر مسلمانی باکدام مدعی اسلام تسلیم هوس میگردد وضعیف میشود ویا کدام جامعه اسلامی منحل میگردد ویا ارتباط بین افرادش از بین میرود ما اسلام را مسئول آن نمیتوانیم گفت بلکه مسوولیت آن بر دانش وفهم غلط ونادرست بر اسلام وعدم تطبیق احکام اسلامی میباشد، اینکه افکار ونظریاتی از شرق وغرب برای توجیه اسلام میآید ومداخله میکند کتاب خدا مسئول آن نیست، بلکه مسوولیت این امر بر دانشهای نادرست وعملی ننمودن احکام اسلامیست.

بقیه ص (٤)

کارهای عمرانی، تربیتي وفرهنگي ولسوالي چرخ ...

می نمایند.

درین ولسوالی باوجود مشکلات اقتصادي وکمبود مواد درسي هشت باب مکتب فعال میباشد.

معلمین ومدرسین که درین مکاتب ایفاي وظیفه می نمایند به ٦٥ نفر میرسد.

شاگردان که فعلاً درین مکاتب ومدارس که در موقعیت هاي مختلف واقع بوده به ١٩٦٤ نفر بالغ مي گردد. مدارس مکاتیب و تعداد شاگردانیکه در آنها مصروف تعلیم میباشد قرار ذیل معرفي شده اند.

١- مدرسه مولانا یعقوب چرخي ٤٧٥ شاگرد
٢- مدرسه دارالایتام مولانا یعقوب چرخي ٢٧٤ شاگرد
٣- مدرسه بحرالعلوم ٣٤٢ شاگرد
٤- مدرسه مدینه العلوم ٢٤٠ شاگرد
٥- مدرسه حضرت عمر فاروق ٤٠١ شاگرد
٦- مدرسه صدیقه ١١٢ شاگرد
٧- مدرسه مظهر العلوم ٦٠ شاگرد
٨- مدرسه حمایت الاسلام ٧٠ شاگرد

بخش تعمیرات به همکاري همه جانبه مسئولین ولسوالي چرخ مربوط تحریك اسلامي طالبان به پیش مي رود. درین ولسوالي پروژه آبرساني که مؤسسه داکار سه سال قبل میخواست که به آن جبهه عملي

میدهد خوشبختانه شروع گردیده به مسلط شدن طلباي کرام زمینه مساعد شد تاکارآن عملاً آغاز گردد.

در پروژه هاي مذکورکه باسی فیصد همکاري مالي مردم آغاز گردیده است وایجاب مي نماید تا دو ذخیره به ظرفیت یك هزار و دوصد م تر مکعب وامتداد نلهاي بطول مجموعي دوازده هزار متر الي ذخایر بوده وایجاب یك شبکه داخل را به نفوس فعلي نموده وتقریباً سه صد استیشن (استند پوست) راسي نماید.

کار پروژه مذکور از ماه اگست سال ١٩٩٥ آغاز گردیده بود تقریباً هشتاد فی صد تکمیل گردیده وکار در مجموع به همکاري مسئولین ومردم منطقه به شدت جریان دارد ومعیاد تکمیل پروژه سه سال پیشبیني شده وانشاء الله به وقت معین مشکل عمده مردم این منطقه که تقریباً جمله سه هزار فامیل میباشد حل گردیده و امید است از امراض کنوني از نوشیدن عاید حال مردم میگردد آب آشامیدني نجات یابند.

وهمچنان درین ولسوالي از طرف کمیته سویدن دفتر ساحوي غزني أمریت انجنیري به همکاري همه جانبه مقام ولسوالي تعمیر

یکباب مکتب ابتدائیه آغاز به کار و داراي یازده باب اطاق بوده و ٢٠ مصرف آنرا مردم منطقه بعهده دارند.

کارهاي ساختماني آن ٥٠ فیصد تکمیل گردیده امید در تا آینده نزدیك کار آن تکمیل گردد.

وهمچنان درین اواخر مقام محترم ولسوالي چرخ ضمن جلسه باشکوه که علاوه از مسئولین ولسوالي علماء، واهالي شریف این ولسوالي، جناب محترم والي صاحب وديگر مسئوین مقام محترم ولایت لوگر شرکت داشتند بعداز نام گذاري این مدرسه بنام ضیاء العلوم عمریه در دامنه شیخ عمر صاحب افتتاح وشروع بکار کرد کار تعمیراتي این مدرسه را مقام ولسوالي بدوش داشته که البته مصارف چوب آنرا مقام ولایت عهده دار شده وباقي مصارف را مردم شریف این منطقه همکاري خواهد نمود.

مساحت عمومي این مدرسه تقریبا به چهار جریب میرسد که داراي سي اطاق ویك مسجد جامع میباشد که بر ١٥ اطاق عملاً کار شروع گردیده انشاء الله در مدت کمي کار آن تکمیل وبصورت یك مرکز تعلیمي اسلامي عرض وجود خواهد نمود.

شریعت، افغانیت او ملي ژبي سره کرکه او...

داسلام په خلاف بنیی. دغه جریده په خپله تنقیدی لیکنه کی دافغانستان د ډیرشو ولایتونو خلك نظر انداز کوی او یواځی دخیرخانی دخلکو په غم کی ژړا کوی او وایی په کابل باندی راکټ اوریږی او خلك په لوږه مبتلا دی، خو دکابل کابینه (دحکمتیار کابینه) څه نوری خبری کوی: « سینما ګانی د بندی شی، له رادیو تیلیویژن څخه دموسیقی لری شی، نطاقان دملی لباس اغوندی، ... » جریده داهم وایی چی ډیر وزیران، معینان او رئیسان په کابینه کی دننه اوډباندی دخپلو کورونو په باموتو باندی ډیش انتینا وی لری چی خارجی تیلویژنونه ګوری، جریدی دمتن په مخونو

کی دموسیقی، سینما، تلویزن اوعکسونو د جواز دپاره زیاتی بهانی او حیلی لټولی دی، چی په ښکاره ډول ددغه تش په نوم داسلامی جمعیت دانحراف ښی اونیاتی ورڅخه ځرګندیږی.

نو هغه څوك چی له دوی سره ملګری شوی دی، په ائتلاف کی یی ورسره ګهون کړی دی، او بیا هم دعوه کوی چی اسلام او افغانستان ته خدمت کوی اودغه ځوریدلی ملت ته نجات ورکوی په حقیقت کی یا خوخپل ځان، ګوند، مسلمانانو او افغانانو ته دوکه ورکوی، اویا خو آګاهانه دشخصی ګټو اومفاداتو تر لاسه کولو دپاره داسلام، اسلامی جهاد او افغانستان دګټو تر

سرتیریږی اودغه ملت ته نور هم مشکلات او ربړونه ایجادوی اوداسلام اوهیواد ددښمنانو مټی اولاسونه وربیاوری کوی.

اوس دهیواد ټول خلك داتلافی اداري په بدو نیتونو او ارادو باندی پوهیدلی دی، ټول ملت ددوی په خلاف قیام کړی دی، ځای په ځای ددوی په خلاف دکرکی اونفرت طوفان روان دی. هیڅ مؤمن اومبارز مسلمان ته پکار نه دی چی په دی نیت ورسره مرسته او همکاری وکړی چی له دوی څخه به داسلام او وطن دپاره سیکنه وصومی. هغه وخت لری نه دی چی حوریدلی اوکړیدلی هیوادوال به ددوی له انحرافی او بدمرغه کړو وړو څخه وژغورل شی. انشاء الله.

عبادات در اسلام چه مفهومـــــی را افاده ...

فهم نادرست از اسلام ومسئولیت انحراف از تطبیق احکام آن هم به مسلمان خاص ومعینی متوجه نیست ، بلکه هر مسلمانی که خودش را به اسلام منسوب میداند وزیر بیرق اسلام میباشد وقرار دارد وظیفه اول وفرضش اینستکه او از صمیم قلب برخداوند اعتماد وایمان وباور داشته واز تهدل بر عظمت وبزرگی خدا یقین داشته وخود حقیقتاً بخدا ایمان وباور میداشته باشد وعقیده اسلامی در عمق قلبش داخل میشود وباز برای رسیدن بخدا راه مستقیم وسالمی را میداند ودرپیش میگیرد.

با اینهمه سوغات وتحفه از شرق وسوغات وتحفه از غرب میآید که یکی آن بایجاد دهریت دعـوت میکند ودیگرش بظلم وتجاوز مردم را تشویق وترغیب مینماید ومیخواهد مردم مال ودولت را بر آرزوهای انسانی برتری دهند وقوت مادی وشعله آتش آن زندگی وحریت مردم را بسوزد ومحو کند.

لیکن اسلام ما ، دین خدای واحد وتوانا، هدایت ارحم الراحمین نه ازتباطی باشرق ونه پیوندی باغرب دارد بلکه بر باور وایمان بخدا استقرار است وطرفدار ارزشهای انسانی است که میخواهد ظلم وتجاوز بهر نوع‌و رنګی که باشد محو ونابود ګردد.

ماسلمانان نه شرقی ونه غربی استیم، مامیخواهیم که مردم تنها بخدای یګانه ایمان داشته وبارزشهای والا وبلند انسانی اهمیت وارزش بدهند، دین ما از مابخاطری لشکری ساخته که با طغیان وسرکشی مقابله کنیم وعدل وامنیت را سراسری را در جامعه تأمین نمائیم .

بنازیم دست توانای طلبه گرامی را کـه باوصف دست در ازیهای اغیار ودشمنان دین وتمامیت ارضی کشور عزیز ما افغانستان توانسته اند با انفاذ شریعت غرای محمدی «ص» که خواست همه مسلمانان هموطن ماست دربیش از پانزده ولایت این خـاك مسلمان ومجاهد پرور کفر شکن به سرکشیهای غیر انسانی واسلامی که زیاده تر از پانزده سال گریبانگر مردم مسلمان مابوده پایان داده اند وامن وامان را که همه تشنه آن بوده ایم برقرار داشته اند . بادعای توفیق مزید شان .ناتمام

مور له هرمفسد او هر ډول اخلاقي اواجتماعي ...

مسلمان ملت دا تمه درلوده چي ددوی د شهیدانو د وینو په برکت به دبو ارام او سوکال ژوند خاوندان شي، خو چي دا هیله اوبه بووړه ، نودطالبانو اسلامي تحریك ددغهز عالي هدف د ترسره کولو دپاره خپلي هلي ځلي پیل کـړی چي دادی دلوی او مهربان خدای (جلال جلاله) په مرستـه اودمسلمان ملت په غوځ ملاتړ دځه دپاسه یونیم میلیون شهیدانو ارزوګاني پوره شوي اودطالبانو تر کنترول لاندی په ټولو سیمو کي بشپړ امنیت ټینګ او اسلامي نظام نافذ دی.

ده وویل: داسلامي تعلیماتو په رڼا کي له هر مفسد او هر ډول اخلاقي اواجتماعي فساد سره تضاد لرو، زمور تضاد له کوم شخص سره نه بلکي دهغه له ناوړه اومفسد عمل سره دی ځکه اسلام او فساد یو تربله ضد دي او دغـه دواړه یوځای نه شي جمع کیدلای.

ده وویل: دجهاد مصلح او خبرغوښتونکي قوماندانان زموږ تن او وجود دی همدا اوس زموږ په لیکوکي زیات شمیر جهادي قوماندانان موجود دي . دپکتیکا غیرتي او مجاهد اولس له طالبانو سره خپلي همکاری جاري سانلي اوپه دي ولایت کي یې دفساد اومفسدینو په له منځه وړلو کي له هیڅ ډول مرستي اوهمکاری نه ده نه ده کړې.

ده وویل: دپکتیکا دوالي په توګه دغـه ولایت زما کور اوپه دی کور کي هیڅ ډول فساد او مفسدین نه شو زغملی، په هره سیمه او هره ساحه کي دمفسدینو اوفساد اصلاح زموږ ملي اواسلامي وظیفه ده اوپه دي فریضـه کي له مجاهد اولس سره دلوی خدای (جلال جلاله) نصرت اومرسته شامله ده، موږ دالله په مرسته دهر ډول فساد اومفسدینو دمقابلي توان لرو.

ده زیاته کړه له قوماندان حاجي «پاری» سره مو مشکل دتفاهم او خبرو له لاري حل شوی او اوس له هغه سره کوم مشکل نه لرو، که څـه هم دښمنان غواړي چي دطالبانو او جهادي مشرانو ترمنځ فاصلي پیداکړي ، خو ددوی دغـه ارمـان به تر خـاورو لاندی شي داځکه چي اوس له منفي تبلیغاتو او پروپاګندو پرته دوی ته نور څه نه دي پاتي.

ده وویل : له مسعود سره دحکمتیار له ائتلاف نه وروسته هغه خپل تنظیم په سیاسي اونظامي لحاظ ذیم اوختم کړ او اوس یوازې اوبرازي دمسعود رباني دبقا اوپاپست لپاره پردي بچیان دطالبانو په مقابل کي جنګوي اوپه دي توګـه غـواړي دهغـوی په وړاندې دصداقت او وفاداری مظاهره وکړي.

مولوی حقاني وویل: موږ به هیڅکله دخپل دیندار اومجاهد اولس قاتلان ونه بخښو، دافغانانو په زړونو کي اوس هم دیونیم بلیون شهیدانو درد ژوندی پروت دی، دکـابل ناکـامـه اوتش په نامـه اداره نن په روس اوهند تکیه لري، خوله روسانو اوهندوانو سره به زمـور دمسلمان ملت دښمني دوام ومومي . دکابل د اداری تش په نامه مشران په کومو سترګو نړیوالوته دافغانانو دمشرانو په توګه خپل ځانونه معرفي کوي، ځکه دغو استادانو اوانجنیرانو د وطن د ابادی پرځای دوطن ورانی ته ملاتړلی ده.

ده وویل: موږ له ټولو دوستو هیوادونو په تیره بیا پاکستان سره دسو اړیکو ساتل غواړو ځکه پاکستان زموږ دګوارلس کلن هجرت کور دی او ددغه هیواد دمسلمانو خلکو دغـه نیکي او احسانونه به تل له مور سره ژوندي پاتي وي.

داسلامي تحریك مسئولینو دپکستان ..

داسلامي تحریك پر مسئولینو سربیره دعالي شوری سرپرست محترم ملا محمد حسن اخند هم برخه درلوده.

په دي غونډه کي داسلامي تحریك دعالي شوری سرپرست او نورو مسئولینو دهغه هیـواد دخپلواکي د۴۹ کلیـزې له امله پاکستاني مشرانو اودپاکستان ورور ملت ته مبارکي وویله اوله لوی خدای «ج» څخه یې وغوښتل چي د دواړو ورونو هیوادونو ترمنځ د ورورۍ اړیکي لا پیـــاوړی او دوامداري وي او دیویل په کورنیو چارو کي دنه لاس وهلو پرېښت پخپلو کي خپلي همکاري جاري وساتي.

دطلوع افغان ورځپاڼي دراتبایمه....

کمپیوتري سیستم چاپ شوه.

خبریال زیاتوي چي دطالبانو اسلامي تحریك دنورو زیاتو عمراني ، اجتماعي اوفرهنګي فعالیتونو په لړ کي خپرونو ته هم زیاته پاملرنه کوي چي دهمدی پاملرني په نتیجه کي دطلوع افغان ورځپاڼې هم خپل پخواني لرغوني محبوبیت ترلاسه کړی او مینه وال یې زیات شوی دي.

دطلوع افـغـان نشـراتي اداري له ګرانو هیوادوالو څخه وغوښتل چي له وخت نه په استفـادي سره دطلوع افـغان ورځپـاڼي دمحتویاتو دلاسه والي په غرض خپلي علمي ،ادبي او انتقادي لیکني وروا‌ستوی اوپه دي توګه دي تاریخي ورځپاڼي ته لاسکلا ورېه برخه کړي.

دکشمیر مسئله دملګرو ملتونو....

فیصلی څخه خبر شو چي دری ورځې وروسته یې په دیوال حرول شوی لست وکوت او بیا یې په لسمه ورځ دامنیت دشوری مشرته خپل احتجاج وړاندی کړ.

که چیری دسپتمبر په ۱۶ نیټه بیاهم دکشمیر په مسئله بحث ونه شي او په اجنډا کي ونه نیول شي نو دا ویره موجوده ده چي دکشمیر مسئله به په غوځه توګه دملګرو ملتونو له مؤسسی څخه وویستل شي او بیا به دپاکستان او کشمیریانو دحق غوښتلو اواز هیڅوك نه اوري.

په کندهار کي د C.S.A دموسسي...

دفعالیتونو په اړه معلومات وړاندی کړل اوبیایي په کندهار کي ددفتـر د نمایندہ په توګه محترم حاجي شاه محمد حاضرینو ته معرفي کړ.

ده زمنه وکړه چي دغه موسسـه به دخپلو مـالي اوتخنیکي امکاناتو په چوکاټ کي دهیـواد په بیـاوداتولو کي له هیڅ ډول هلو ګلو څخه ډډه نه کوی او زیار به باسي خپل ټول پروګرامونه دارو هیوادوالو له غوښتنو سره سم عیار کړي.

په مقابل کي دکندهار والي محترم ملامحمد حسن دهیواد دکنهوالو په بیاودانولو کي دبهرنیو او کورنیو مؤسسو هلي ځلي وستـایلي اوهیله یې څرګنده کـړه چي دC.S.A مؤسسه به هم دخپلو کیډلو او ګوریدلو هیوادوالو غوښتنو ته مثبت جواب ووایي.

د پرانستلو مراسم په هیـواد کي داسـلامي نظام دحاکمیت او دادمن امنیت دتینګښت په دوعا پای ته ورسیدل.

مور کوښښ کړو چي دهیواد ....

شوه.

غونده دعظیم الشان قرآن دحو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شـوه وربیسي دګـرشك دولسوالي دسوونحي او روزني مـدیر دمیخانیکي سوونحیو داهمیت په ارتباط هر ارخیزې خبري وکړي او دهیواد په بیاودانولو کي یې تخنیك مثبت ارزیابي کړ.

خبریال زیاتوي دغوندي په پای کي دملکي سوونحیو رئیس عبدالله نعماني خبري وکري زیاته یې کره: مور کوسس کوو چي دهیواد په بیلو بیلو سیمو کي میخانیکي سوونحي پرانیزو، ده داد ورکر چي مور چستو بو تر حو ددغه میخانیکي سوونحي تول مشکلات حل کرو او ددوی غوستني په پام کي ونیسو.

دغـوندی په پای کي عبـدالله نعمـاني دسوونحي فارغانو ته بري لیکونه ورکرل او دهیـواد په بیـاودانولو کي یې ددوی دبریالیـتـوبونو غـوستـنه وکـره.

اوس په اورګون کي دفساد هیڅ ...

کي بالکل امنیت ټینګ دی، کـه څـه هم دریاني تش په نامـه اداري غـوښتـل دخپلو بریحـو په تخـریبکاری په دی ولایت کي مشکلات پیدا کړي، خو دپکتیکا دمحترم والي او دارګون دمسلمانو خلکو په ګډ تفاهم دهغوی هر ډول تخریبي فعالیتونه له غوڅي ماتي سره مخامخ شول او اوس هلته دفساد هیڅ ډول نښي نښاني نه لیدل کیږي .

ده وویل: کـه څـه هم دطالبـانو داسـلامي تحریك فعالیتو کوښښ کاوه چي مسئله دجنګ له لاری نه بلکي دخبرو له لاری حل کړي، خو جرګو اومرکو څه فایده ونه کړه او دمحترم مولوي ارسلا رحماني په مشری ۲۸ کسیز هیئت چي عظیم الشان قرآن هم ورسره و ناامیده راستانه شول او ددی تر څنګ له کابل څخه په دوو هلیکوپترونو کي زیاته اندازه پیسـي اومـهمـات دخالد مرکزونوته راورسول شول، چي دهمدی تحریکاتو په تعقیب یې داسلامي تحریك په مرزکونو سخت او هر اړخیز عملیات پیل کړل، خو نتیجه یې هغه شوه چي ټولو هیوادوالو ولیده.

ده وویل: په ارګون کي دحزب دقرارګاوه په ختمولو سره د ارګون خلك له اندازي نه زیات خوشال دي او داسلامي تحریك مرکزونو ته دمبارکیو لپاره ډلي ډلي راځي .

جنرال بابه جان درین اواخر ازهند ...

هند دیداري بعمل آورده ، وبه ارتباط سفر بابه جان شایعات در میان بود که گویا موصوف از کابل به هند فراری شده ودر آنجا پناهنده گردیده است بعداً معلوم گردید که بابه جان اصلاً فرار نکرده بلکه در این سفر از طرف اداره ائتلافي وظیفه گرفته بود که افراد رژیم سابقه کمونیستی را دعوت نماید که به کابل بیایند، منابع متذکره می افزایند که جنرال بابه جان در هند با محمود بریالي برادر ببرك کارمل وتعدادی از افراد بلند پایه رژیم سابقه کمونیستی گفتگوهای داشته است. برخلاف شایعات جنرال بابه جان کماني السابق قوماندان فرقه صفر ۱۵۵ اداره ائتلافي میباشد.

خبر می افزاید کـه جنرال بابه جـان از وحیدالله سباون به اصطلاح وزیر دفاع اداره کابل کـه از فرقـه متذکره دیداری داشت استقبال نموده ووزیر صاحب را خیر مقدم ! گفت وسباون صاحب در دعوت اشتراك کرد کـه از طرف بابه جان به افتخار اوشان که دشمنان دیروز ودوستان امروز اداره ائتلافي واندیوالان کمونیست آنها میباشند ترتیب یافته بود.

دپکتیا مشهور قوماندان محتـــرم پاری ...

ټول قوماندانان خپلي درندی وسلي طالبانو ته تسلیموی، نو دوعدی دتعمیل په غرض خپله ټوله درنده وسله طالبانو ته تسلیم کړه .

خبـریال زیاتوي: په داسي حـال کي چي دسیمي مشهور علماء، قوماندانان او قامي مشران حاضر وو محترم قوماندان «پاری» او دهغه ورور محترم سایسته باز تعهد وکړ چي خپله ټوله درنده وسله به د طالبـانو داسلامي تحریك په خدمت کي ورکوي او مجاهدین به یې دطالبانو د اسلامي تحریك په لیکو کي دهرډول فساد په مقابل کي خپلي هلي ځلي جاري ساتي .

دطالبانو هیئت ددغي فیصلي په پای کي ددغو دووتنو ورونو دغـه اسلامي عمل وستایه او دسیمي له علماو ، قوماندانانو او قامي مشرانو څخه یې مننه وکړه چي په دغه شان حسنه هلو ځلو کي دطالبانو داسلامي تحریك د رغنده هلو ځلو ملاتړ کوي، دوی قوماندان پاری او دهغه ورور شایسته باز ته داد ورکړ چي دوی به لکه دطالبانو داسلامي تحریك دنورو غړیو په شان دتحریك له هر ډول مرستو څخه برخمن وي.

په پای کي په هیـواد کي داسـلامي نظام دتینګښت او امن او استقرار دوعا وشوه .

افغانستان خانه مشترك همه مسلمانها است

شوری علما، کرام وبزرگان قوم مهاجرین افغان مقیم وزیرستان جنوبي از مقررات نافذه در مناطق تحت سلطه طالبان/علماي کرام وبزرگان وزیرستان جنوبي را اگاه نموده گفتند: که افغانستان خانه مشترك همه مسلمانها است وهرکس میتواند که درآن غرض تجارت و غریبي به آرامي گشت وگذار نماید وبا برادران مسلمان خود از نزدیك ببینند در روشني دین مقدس اسلام حال واحوال خود را میان هم شریك نمایند.

این را هم باید عرض نمایم که : برای آناني در مناطق وعلاقه خودها موقع وفرصت ندهید که امنیت مسلمانها را از جهت بی علمي وناګاهي برباد مینمایندوبه تخریب کاري متوسل میشوند که خدای نخواسته در میان مسلمانها مرض مهلك نفاق را ایجاد ودر میان خود اوشانرا در گیر نماید و دشمنان اسلام نظاره آنها را نمایند.

واین را هم باید عرض کرد که آنانیکه غرض تجارت وغریبي به افغانستان میروند درهمه علاقه ها مربوطه به اوشان اعلان وتفهیم گرددکه : در افغانستان از خرید وفروخت اسلحه مواد مخدره ونیشه آور، کست های فلمي ، واسباب عیاشي ومنکر، آهن پاره ها (کباړ) وآثار تاریخي که مال ملت مسلمان افغان میباشد جداً جلوگیری نمایند واز تجارت آن خود داری شود زیرا در مناطق تحریك اسلامي طالبان برکار وبار اقلام متذکره جدی پابندی وضع شده است . اگر کسی مرتکب چنین کاروبارشود وباز از طرف مسئولین دستگیر گردد مالش ضبط وخودش شدیداً مجازات میشود که در این صورت حق شکایت را ندارد.

په خوست کي دکوچیانو اوخوستوالو...

مولوی فضل احمد ،محترم مولوی نظر ګل ، محترم مولوی نور محمد او محترم مولوی محمد یوسف پکې وو دهغه ولایت مرکز ته ورسیدل.

اوس چي دوی له خوست نه راستانه شوی دی دشریعت داوونیزې خبریال له محترم مولوی محمد صادق او محترم مولوی شهاب الدین دلارو نه ددوی دسفر په باب معلومـات وغـوښتـل، هغـوی داسي وویل: مـوږ چي خوست ته ورسیدو دجمعي په ورځ دخوست له علماو سره مو وکتل او بیامو په هغه غونډه کي ګـډون وکـړ چي په ګـریزو کي دهغي سیمي علماو قامي مشرانو او عامو خلکو دطالبانو له اسلامي تحریك سره دملاتړ په غرض جوړه کړی وه .

دوی وویل : په غونډه کي دهیئت په غړیو هریو مولوی محمد صادق او مولوی محمد میر سر بیرده دسیمي علماو لکه مولوی پیر محمد تني ، مولوی فتح خان ځدران، مولوی ګلاخان او دقام سپین ږیری محترم شهباز خان پخپل وار سره ګډوری خبری وکړی .

همدارنګه دهیئت یو شمیر غړیو په جامع جوماتونو کي خلګو ته موعظي واوروللي اوپه بیلو بیلو جوماتونو کي یې دخوست له خلکو سره خپل نظریات شریك کړل دشنبي په ورځ داسد په ۱۹ نیټـه دهیئت غـړیو دکـوچیانو او خوستـوالو تر منځ دلانجي دختمولو لپاره یو شمیر قامي مشران اوسپین ږیري وکتـل اوپه دي اړه یې ګـتـوري خبـری سره وکړي.

دیکشنبي په ورځ داسد په شلمه نیټه دهیئت دغړیو په ګډون دخوست علماو ، قامي مشرانو اوعـامو خلکو دخوست په جامع جومات کي غونډه وکړه او د رواټو حالاتو په تیـره بیـا دمسـلمانانو ترمنځ د ورورۍ اومحبت په اړه ګټوری وینااوي واوروللي شوی، بیا دسه شنبي په ورځ د اسد په ۲۲ نیټه دخوست په صبریو کي هیئت په هغه غونډه کي ګډون وکړ چي دصبریو دعلماو ، مشرانو او عامو خلکوله خوا جوړه شوی وه، په دی غونډه کي دهیئت په څښتو غړیو سربیره دصبریو مشهور عالم محترم مولوی فقیرالله هم اوږدي اوګټوری خبری وکړی او دطالبانو له اسلامي تحریك سره یې دسیمي دخلکو غوڅ ملاتړ څرګند کړ. په دی غونډه کي طالب العلم جاوید سلطان سروری هم یو ښکلي شعر واوراوه چي دحاضرینو دیر خوښ شو.

هیئت دچهارشنبي په ورځ دتریزایو او لکنو او دپنجشنبي په ورځ دکوچیانو له مشرانو سره وکتل اوهغوی یې په دی قانع کړل چي یوه سیـاشت اوربند به مني او بیـا به دطالبانو داسـلامي تحریك په سرپرستي د روغي جوړې جرګې ته واك ورکوي تر څو ددوی مشکل دخبرو اوتفاهم له لاري حل شي.

په کندهار کي یوه اندازه وسله ...

ولسوالي دامنیتي ځواکونو له خوا یوه اندازه وسله کشف او ونیول شوه

خبریال زیاتوي چي په دي وسله کي دیوسیل زیګاویك ماشیندار او یوسیل دوه اتیا ملي مـتري توپ په ګـهون زیاته اندازه مهمـات موجود دي . دغه وسله دولسوالي مربوطو مقاماتو ته سپارل شوي اوقضیه تر تحقیق لاندي ده .

همدارنګه دهلمند ولایت له موسی کلا څخه زموږ خبریال خبر راکوي چي به هغی ولسوالي کي دکابل دائتلافي اداری څو تنه جاسوسان نیول شوي اودقانون منګولو ته سپارل شوي دي.

خبـریال زیاتوي: دغـو جاسوسـانو دکـابل دبدنامي اداري لپـاره جـاسـوسي کـوله او غوښتل یې چي دپیسو او وسلو په ویشلو سره دسیمي امنیت ګډوډ کړي.

خبریال وایي: له دغو جاسوسانو څخه یوه زیاته اندازه سپکه او درنده وسله هم ترلاسه شوي او مربوطو مراجعو ته سپارل شوي ده ، مجرمـین تر تحقیق لاندي دي او دشرعي محکمي دحکم له مخي به مناسبه جزا ورکړل شي.

دطالبانو اسلامي تحریك په افغانستان ..

هم راغلي اوغوښتل یې دافغانستان داوسني مشکل دحل او دیوه مـرکـزي حکومت دجوړېدو لپاره دحل لاره پیدا کړي .

مـولوي محمـد غوث وویل: مـوږ هغـه ته په جواب کي وویل چي دطالبانو اسلامي تحریك په افغـانسـتان کي دبحران دپای ته رسولو لپاره راپورته شوی دي، ترڅو دغه موجوده بحران ختم او داسـلامي حکومت لپاره لاره پیدا کړو، موږ هغـه ته وویل چي دمشکل یوازیني عامل رباني او دده نظامي سلطه ده چي پر کـابل باندی یې لګولي ده، نو کـه چیری دی استعفي ورکړي او کابل غیرنظامي شي ، دافغانستان ملت ته اجازه ورکړی شي چي سره راټول شي او دافغـانسـتان په راتلونکي حکومت خبري وکړي اویخپله دافغانستان خلك حکومت جوړ کړي . نو هغه به ټول ملت ته دمنلو وړ وي .

ده وویل: زما په نظر دمشکلاتو په سرکي دریاني وجود اودکابل اوسني دولت دی چي دمشکلاتو اوکړکیچ سبب ګرځیدلی دی.

ده وویل: له هینګ براون سره په خبرو کي دکندهار والي حاجي ملامحمد حسن اخند او دشوری اتلس تنه غړي حاضر وو .

اعـــلان

خداوند «جل جلاله» کیست؟ کائنات چیست؟ رکوع وسجده یعني چه وچرا نمـاز پنج بار در روز؟ سـوال واقع شـدن روز آخرت ، وموضوع دیگر درکتاب

آئینـه

آبادی درون ضرورت اول فرد فرد ماست وکتاب آئینه مجموعه، از دو جلد، نوشته أم أحمد، قدمیست به این منظور تنها جلد اول از تاریخ ۱۱ اګست ۱۹۹٦ اماده دستیابی می باشد.

آدرس :

(۱) دانش کتابخانه : دهکی نعلبندی قصه خوانی - پشاور
(۲) تنظیم اسلامي زنان افغانستان حیات آباد - پشـاور

د ګدون بیه	شپږمیاشتی	کالنی
پاکستان	۲۰۰	Rs. 400 Rs.
د خلیج هیوادونه	۱۵۰	SR. 300 SR.
اروپا او امریکا	$.75	$.150

یادونه

سایي ستاسو ایمان به اجازه در نکری چي دا دول سپیحلي پاتي په ناورو حایونو کسي وغورحوی.

(اداره)

خپلواکي اودخپلواکۍ په رڼاکي خپلواك ژوند

اووه اویا کاله دمخه په همدی ورځ زموږ قهرمان او زړور نیکونه اوپلرونه ددین اووطن په پاکه مینه ، د ازادی په سپیڅلي روحیه او دملي تشخص دخوندی کولو په عالي اراده دیو داسي نړیوال قدرت په مقابل کي ودریدل ، وجنګیدل اوفاتح شول چي دهغه وخت دنړی دسترو طاقتونو په سرکي و، دنړی دوخت ډیر ستر نظامي طاقت انګریزان پخپل نظامي قوت دومره غاوره وو چي دافغانستان دمشرانو دازادی غوښتلو په پیشنهادیي بالکل غور ونه کړ او دهغوی غوښتنه یې یوه بابیزه خبره ویلله.

هو! افغانان چي دتاریخ په اوږدو کي آزاد پیدا شوی ، آزاد لوی شوی ،آزاد اوسیدلي او دازادی په فضا کي یې خپل ژوند پای ته رسولی دی په تش لاس، خو دقوی ایمان او اسلامي عقیدي پرېښت دوخت دبا تدبیره مشرانو په رهبری دانګریزانو په مقابل کي ودریدل او ترهغه پوری وجنګیدل چي انګریزان یې نه یوازې له ماتي سره مخامخ کړل بلکي دافغانستان ازادی منلو ته یې هم اړایستل اوپه دی توګه زمور هیواد دنړی دآزادو هیوادونو په قطار کي ودرید.

زموږنیکونو ازادی وګټله ، دښمن یې مات کړ اودافغانانو تیغه شمله یې لاپسي تیغه کړه ، خو دجګری غازیانو اوقهرمانو مجاهدینو بیا دځان لپاره قدرت ونه غوښت، افغاني غازیانو پر خپل مسلمان ملت ددی احسان بار نه کړ چي مور غزا وکړه ، انګریز مومات کړ او دهیواد خپلواکي موږ لاسه کړه نواوس پکار ده چي دهیواد دچارو واګي موږ ته وسپارل شي بلکي برعکس کله چي غازیان دجنګ له ډګرونو څخه په فاتحانه توګه راستانه شول، نو دوخت واکمن ته یې دوطن د ازادی مبارکي وویله او دخپلواك مشر په توګه یې دهغه قیادت ومانه.

رښتیا خبره داده چي هر هیواد او هره ټولنه دخپل هیواد دځمکي دتمامیت خپلواکي اوملي تشخص دساتلو په غرض یو شمیر نظامي قوتونه لري چي همدغه نظامي قوتونه دهیواد دسیاسي جغرافیوی پولو ساتنه کوي، خو دا ددی معنی نه لري چي دبریالیتوب په صورت کي دی دهر نظامي قوت قوماندان او یا سرلښکر دهیواد دواکمني دعوی وکړي اوځان دی دملت دواکمني مستحق وبولي ، بلکي دحکومت چلولو اوسیاسي ا داني دفعال ساتلو لپاره بیا نور قوتونه موجود وي چي هغوی په هغه کار ښه پوهیږي.

نن چي موږ له انګریزانو څخه د ازادی د ترلاسه کولو اووه اویایمه کلیزه لمانځو په ډیر تأسف سره باید ووایو چي همدا نن موږ له ازادی څخه هغه شان خوند نه شو اخیستلای لکه څنګه چي د آزادو هیوادونو لپاره پکار دی ،داځکه زموږ ملت دخپل څوارلس کلن ویاړمن جهاد په نتیجه کي چي کله په خپل ژوند کي ددوهم حل لپاره روسان مات او داخلي کمونستان راوپرزول همدا تمه یې درلوده چي سیاسي چاری به هغه څوك سمبال کړي چي په دی اړه ښه پوهیږي اوپه دی لار کي تخصص لري خوله بده مرغه دجهاد دسنګرونو پرونیو قهرمانانو هر چا دځان لپاره دهیواد دواکمني غوښتنه وکړه او حالات یې تر دی ځایه ورسول چي د روسانو له ماتي وروسته بیا تر نن ورځي پوری زموږ په شرنهو خندا راتغله او دغمونو دپاسه مو نور غمونه انبار شول.

افغانان دتاریخ په اوږده بهیر کي ډیر وخت له ډیرو دغه شان مشکلاتو سره مخامخ شوی دي، خو دخپل اسلامي اوافغاني دود اودستور په رڼا کي یې پرمشکلاتو بری موندلی دي ، نو دانن هم چي موږ له کومو مشکلاتو سره لاس او ګریوان یو ددی هیله راسره ده چي انشاء الله یوه ورځ به له دغو مشکلاتو څخه نجات ترلاسه کوو اوهغه ورځ به راورسیږي چي موږ به یوځل بیا خپل خواږه وطن کي لکه دخوږو وروڼو په شان ورځي ژوند ته دوام ورکړو او پرهغو ټولو مشکلاتو چي دبهرنیو لاس وهنو زیږنده دي بری ترلاسه کړو چي همدا نن یې زموږ اجتماعي اوانه ګډه وډه کړی ده.

موږ په داسي حال کي چي خپلو مسلمانو ، مجاهدو او قهرمانو هیوادوالو ته دهیواد دخپلواکي د اووه اویایمي کلیزې له امله مبارکي وایو دلوی خدای «ج» په دربارکي سوال کوو چي زموږ دټولو افغانانو په زړونو کي د ورورۍ مینه راژوندی کړي اودملي یووالي په عالي روحیه مو په هغه لاره برابر کړي چي دده رضا او زموږ دمسلمان ملت بقا پکي نغښتی ده.

آمین ثم آمین

له شریعت ، افغانیت او ملي ژبي سره کرکه اومخالفت

دکابل دائتلافي اداری یو هیئت د په اصطلاح دکورنیو چارو د وزیر محمد یونس قانوني په مشری پاکستان ته دپاکستاني دولتي مقاماتو دغولوني اوظاهر داری دپاره راغلي وو څو به ظاهر په ائتلاف کي پاکستان پلوه ملګری قانع اوپه عمل او کردار کي روسان او هندوان خوشحاله کړي. کله چي دائتلافي اداري هیئت پاکستان ته راغلي، داسلام آباد په هوایي ډګر کي یې هرکلي دپاکستان د کورنیو چارو وزیر نصیر الله بابر په داسي حال کي وکړ چي په تن باندي یې خپل ملي لباس دی، انګریزي دریشي او نکتایي ئي نه ده اغوستي، خو دائتلافي اداری دداخله چارو وزیر صیب چي دکوم ملاززوی او دابوحنیفه «رح» د مدرسي څخه فارغ ، یوه اسلامي ګوند ته به ظاهره منسوب دی اودکابل دپه اصطلاح اسلامي دولت نمایندګي یې کوله ، دفرانسویانو لباس یې اغوستی اوپه غاړه کي یې دصلیبیانو نښه پرته وه. د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث دی: « څوك چي غواړي ځان دیوه قوم په څیر جوړ کړي، نوهغه دهغه قوم څخه دی. » کټ مټ یې ځان فرانسوی جوړکړی ،له پاکستاني وزیر سره داسي لاسونه ورکړ ته به وایې چي دهندوستان دهندو حکومت کوم نماینده دی . که څه هم دافغاني هیئت مخښو غړو اسلامي تشخص او افغاني لباس یې مراعات کړي وو بالله خود هیئت دمشر اومخښتو غړو لباس اوخبری غیر اسلامي اوغیر افغاني وی اوله اسلام او افغانیت څخه یې نفرت معلومیده.

کله چي دغه هیئت دپاکستان دجمهور رئیس ښاغلي فاروق لغاری سره لیدنه کوی، هغه ورسره دافغانستان په ملي ژبه پښتو باندي خبري کوی، خو دکابل د اداری نماینده په نارامي اوله پښتو سره د نفرت له مخي ورحخه غوښتنه کوي چي په پښتو دي له دوی سره خبري نه کوي . اوکله چي هغه بیا په انګلیسي غږیږي، دغه جناب بیا په انګلیسي نه پوهیږي . په دی توګه وزیر صاحب بي چاره له یوی خوا دخپل جهالت څرګندونه کوی اوله بلي خوا د افغانستان دقاطع اکثریت « پښتو » دملي ژبي « پښتو » سپکاوی کوی . اوداحقیقت ثابتوی چي دغه ډله دافغانستان داسلامي جهاد، اسلامي شریعت ، افغانیت اوملي ژبي سره کرکه او مخالفت لري. اسلامي احکام ، اسلامي اخلاق او افغاني دودونه له مینځه وړي اوپه ځای یې غیر اسلامي کلتور اوغیرافغاني رواجونو ته په هیواد کي وده ورکړي.

کله چي دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریك مجاهدینو دافغانستان له نمایي نه زیاته برخه له جنایت کارانو اولوټماراانو څخه ازاده کړه اوهلته یې اسلامي شریعت چي داسلامي جهاد ستر هدف وو پلي کړ ، حدود او قصاص چي داسلامي شریعت جزایي قوانین دي، په مجرمانو باندی یې تطبیق کړ، دکابل اداري په ټوله نړی کي دسیکولر ملحدو سیارو هیئتونو اوپه بهرګی په سیاسي نمایندګیو کي دپخواني کمونیستو دیپلوماټانو په واسطه دهغو په خلاف ناروا تبلیغات وکړل او هغه یې وحشیانه سزاګاني اوطالبان یې وحشي انسانان معرفي کړل، اوکله چي بیا ددوی له ائتلافي اداری سره حزب اسلامي یوځای شو، صدارت او څوبي واکه وزارتونه یې ورکړ، نوی صدراعظم د ائتلافي اداری داسلامي کولو دپاره څو اسلامي احکام او اخلاق اعلان کړه، خو دائتلاف داسلامي جمعیت مرکزي اخباره مجاهد» د زمری دمیاشتي په دیارلسمه په نولسمه ګڼه کي دصدر اعظم صاحب په خلاف له اسلامي احکامو اواخلاقو سره داسي کرکه اونفرت وښود لکه یوه ملحد او اسلام ضد ډله یې دعامو مسلمانانو له ویری دنفاق په الفاظو ، تعبیرونو او تأویلونو کي په ډیر مهارت سره

پاتې په (۳) مخ کې

SHRIAT WEEKLY

Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.
PAK-RUPE A/C; CD. No. 1694-69
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch
Peshawar Pakistan